
د شمشیر
په تیاروکي
Ketabton.com
ناول
لیکوال: نیک محمد بارک

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب پېژندنه

ناول........................................ د شمشير په تيارو کي

ليکوال........................................ نيک محمد بارک

د کتابونو او ناولونو په لړ کي ................ 11

کال.............................................. 1403/5/30

د نظر او اړتيا په صـــــورت کي د ليکوال ســــره پـه تمـاس کي سی.................................... 0702110371

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لیکوال خبرې

د لایزال الله جل جلاله په پاک او سپیڅلي نامه

ټولو ګرانو لوستونکو ته یو وار بیا ښه راغلاست وایم

الله جل جلاله دي وکړي چي د تیرو ناولونو او کتابونو پڅیر مو دا ناول هم د خوښې وړ وګرځي او زموږ هغه ستړیاوي او زحمتونه چي ددې ناول په لیکلو کي مو ستاسو مینوالو لپاره ګاللي دي بې ځایه ولاړې نسي.

د نورو ناولونو پڅیر مي دا ناول هم په څه دیقت او فکر درته لیکلی دی خو بیا هم انسان عاجزه دی که مو کومه نیمګړتیا تر سترګو سوه د اصلاح لپاره یي راسره د واتساف پیغام له لاري شریکه کړی تر څو په نوې ناولونو کي یي اصلاح او د بیا تکرار څخه مخنیوی وسي.

په درنښت

نیک محمد بارک

(c) ketabton.com: The Digital Library

*

ټول محصـــلين پـه حيرانتيـا د غونډو تالار ته روان وه د هيواد نور لوړ پوړي چارواکي هم راتلل او د غونډو تالار ته يي ځان رسـوئ، يو محصل چي ناخبره وو وويل: دا اوس څه خبره ده چي نن دومره زيات رش دی او ټول د غونډو تالار ته روان دي؟

بل محصـل وويل: ته نه يي خبر ياره نن د شـمشـير په تيارو کي د ناول ليکواله خپل کتاب او د سترګو ليدلي حقيقتونه پر سټيج بيانوي.

محصل وويل: ښه دا خبره ده هو رښتيا هم د هغې ناول ډير مشهوره هم سـو او ځينو نه منل چي ددې ناول کيسـه دي حقيقت وي ليکواله خو وايي چي دا حقيقي کيسه ده.

بل محصـل وويل: تاسـو راځئ نن هغه خپله ټوله کيسـه پر سـټيج کوي.

کله چي د غونډو تالار ډک سو نو ځني محصلين د تالار په زينو کي کښـينسـتل او ځني ودريدل ټول د شـمشـير په تيارو کي د ناول د ليکوالې راتلو ته په تمه سول چي تر څو شيبو وروسته هغه د سټيج پر دروازه راننوتـل، د هغې پـه ليـدو پـه تـالار کي ټولو ګـډونوالو چکچکې کړې او هغې ته يي ښـه راغلاسـت ووايه، ويناوال وويل: دوسـتانو ښـه راغلاسـت درته وايو لکه څنګه چي تاسـو خبر ياسـت چي د شمشير په تيارو کي ناول چي يو ډيره جالبه کيسه لري او په ډير لږ وخـت کي يي پـه زرګونو ويونـکي پيدا کړل ددې نـاول ځني ويونـکي انتقاد کوي چي دا يو د ځانه جوړه سـوې کيسـه ده حقيقت نلرې خو ليکواله صاحبه وايي چي دا حقيقت دی او هغه دا هم وايي چي هغه ددې کيسـې د رښـتيا ثابتولو لپاره ثبوت هم لرې خو نه يي غوښـــتل چي ثابت يي کړې چي بيا د پوهنتون د ريس لخوا د هغې کورنۍ ته پيشـنهاد وسـو ځکه ريس صـاحب ته هم د چارواکو لخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیشنهادونه سوې وه چي د هغې کورنۍ په دې راضي کړې چي هغه خپله کیسه خپله وکړې او دا ثابته کړې چي د هغې ناول رښتینی دی چي بیا لیکوالې صاحبې او د هغې کورنۍ دا پیشنهاد ومنئ او نن د دوی په پار غونډه جوړه سوېده نو اغلې لیکوالې صاحبې ته بلنه ورکوو چي د سټېج مخته راسې او خپل ناول موږ ته په خپله خوله واوروي.

لیکواله ولاړه سوه او د سټېج پر خوا روانه سول د هغې لپاره د مائک مخته چوکۍ کښېښول سول بیا هغه پر کښېنستل، د هغې د سترګو معلومیدل چي ژړلې یي دي تر څو شیبو وروسته هغې په ژړغونې ږغ وویل: هر څه غواړم هیر یي کړم خو بیا ځانته ووایم کله یي هیرولای سم چي د هغه یادونه راسره هر ساعت او هره دقیقه مل وي فکر نکوم چي زموږ دې یوه ورځ هم تیره وي په داسي حال کي چي ددې کیسې صرف یونیم کال کیږي خو بیلتون یي دومره بیا سخت سي چي یوه ورځ راباندې کال سي او هغه ته د انتظار دقیقې ساعتونه ورځې میاشتې حسابم د نن څخه تقریباً یونیم کال مخکي....

ټولو محصیلینو د ادبیاتو د پوهنځۍ د تاریخ د څانګې څخه د اخیرې سمسټرد پای ته رسیدو د فراغت مراسم لمانځل او د خوښیو په دې جشن کي یي خنداوي او مجلسونه کول او یو او بل ته یي مبارکۍ سره ورکولې. کله چي مراسم پای ته رسیدل نو استاذ غوښتل چي اداري ته ولاړ سي، کله چي هغه اداري ته پر لارې وو نو هیله ور پسي روانه سول غوښتل یي استاذ ته خپل د منوګراف موضوعوي ور ښکاره کړې، کله چي استاذ ته ورسیدل نو هغه ته یي وویل: وبخښه استاذه!

استاذ وویل: مهرباني هیلې څه خبره ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیلۍ استاذ ته کاغذ ونیوئ بیا یي وویل: استاذه ما دا موضوعوي انتخاب کړیدي ته یي وګوره چي پر کومي موضوع منوګراف او معلومات راټول کړم؟

استاذ چي کله وکتل نو تر څو شیبو وروسته یي هیلۍ ته وویل: دننه راسه اداري ته!

کله چي هیله د استاذ سره دننه اداري ته ولاړل نو تر څو شیبو وروسته استاذ وویل: هیلۍ زه تاته یو موضوع درکوم د نمرو سره چي ټاپ به یي درکړم ترڅنګ به ستا نوم تر کلونو کلونو ځلیږي او یادیږي به.

هیلۍ وویل: څنګه موضوع ده استاذه زه به کوښښ پر وکړم؟

استاذ وویل: موضوع سخته هم ده او دلچسپه هم ده اووووو!

هیلۍ وویل: او څه؟

استاذ وویل: او خطرناکه هم.

هیلۍ وویل: څنګه خطرناکه؟

استاذ وویل: کیدای سي ستا ژوند ته کوم خطر پیښ سي.

هیلۍ وویل: استاذه ستا په خبرو پوه نسوم؟

استاذ ولاړ سو او یو کتاب یي راواخیستئ هغه یي خلاص کړ بیا یي د هغه لمنځه یو عکس راوایستئ هیلۍ ته یي وویل: په دا غره کي دا لوی سوری غوندې غار وینې؟

هیلۍ وویل: هو.

استاذ وویل: دا شمشیر غار دی چي ستاسو د افغانستان په کندهار ولایت کي موقعیت لري زه غواړم ته د شمشیر غار په اړه دقیق او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوره معلومات راټول کړې ستا پلار شاید هلته دوستان ولري هغه یو وخت یادونه راته کړې وه.

هیلې وویل: نو په دې کې د خطر کومه خبره ده؟

استاذ اوږده ساه واخیستل بیا یې وویل: داسې ویل کیږي چې دا غار د پیریانو مرکز دی.

هیله په خندا سوه بیا یې وویل: استاذه تاسو هم په دې خرافاتو او اوازو باور کوئ؟

استاذ وویل: زه باور نکوم بلکې شکمن یم پکښې چې دا اوس حقیقت لري که نه ځکه تر اوسه ددې غار پای ته هیڅوک نه دي ورغلي تر داسې حده پورې چې امریکایې ځواکونه چې په کندهار کې یې لویې پوځې اډې درلودې او زیاتره وخت یې د تاریخې ځایو په څیړنو کې تیروئ چې هر څومره وسایل یې هم درلودل بیا یې هم ونسواې کولای چې ددې غار حقیقت معلوم کړې او څیړنې پکښې وکړي.

هیلې وویل: نو زه به څنګه معلومات راټول کړم چې هغو د دومره امکاناتو سره سره هم ونسواې کولای چې ددې ځای حقیقت معلوم کړې؟

استاذ وویل: په تاریخې ځایونو کله کله تر څیړونکو ډیر هغه څوک معلومات لري چې ددې ساحې په شاوخوا کې اوسیږي ته به هلته ځې او د کلي د خلکو څخه به معلومات ټولوې زه تاته شمشیر غار ته د دننه ورتلو اجازه نه درکوم.

هیلې وویل: سمده استاذه زه اماده یم.

استاذ وویل: اول دي د مور او پلار سره مشوره وکه وروسته فیصله وکه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیلې وویل: سمده استاذه زه به ماښام ان شاءالله ورته ووایم بیابه سباته خبر درکړم.

وروسته هیلې د استاذ څخه خدای په امانی واخیستئ او د خپلو ملګرو سره یې مشوره وکړه، هغو ډیره تشویق کړه او د پوره نمرو هیله یې هم ورکړل، کله چې یې ماښام پلار راغلی نو هیلې پر سترخوان ورته وویل: بابا زه غواړم کندهار ته ولاړه سم.

پلار یې په حیرانتیا وویل: څه؟!

هیلې وویل: استاذ د منوګراف موضوع راکړیده چې باید زه د شمشیر غار په نامه پر یو ځای معلومات راټول کړم.

پلار یې وویل: ته په سد کې یې چې دا څه وایې او پوهیږې چې هغه ځای څومره خطرناکه دی؟

هیلې وویل: بابا زه دننه غار ته نه ورځم د کلیوالو څخه پوښتنې کوم د هغو څخه معلومات راټولوم او دا پیریان او بلاوې دا ټول مازې اوازې دي نور هیڅ نسته.

پلار یې وویل: اوازې ندي بلکې حقیقت لري بې عقلې زه خپله هلته تللی وم کوچنیوالي کې سخت بېرونکی ځای دی تر اوسه هلته هیڅوک دننه نه دې ورغلې.

هیلې وویل: بابا ته خو پوهیږې چې هغه ستا د نیکه جان د زیږیدو ځای دی زه غواړم د نیکه جان یادونه هم هلته محسوس کړم او لیدنه تري وکړم هیله کوم بابا ماته اجازه راکړه.

پلار یې د ډوډۍ څخه ولاړ سو په غوسه یې وویل: زه هیڅکله تاته اجازه نه درکوم چې هلته ولاړه سې.

هیلې وویل: بابا!

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو پلار يي د ســـترخوان څخه ولاړئ او څه يي ونه ويل، کله چي سـهار سـو د هيلې د پلار وظيفې ته د تلو وخت يو سـاعت پاته وو چي هيلې خپل مور ته چي د ناشـــتې په خوړلو ور ســـره اخته وه وويل: مور ته بابا ته ووايه چي ماته اجازه راکړي.

مور يي وويل: زه نسم ورته ويلاى هغه ډير په غوسه دى.

هيلې وويل: مور ورته ووايه نو هيله کوم بابا ستا خبره مني.

مور يي وويل: هغه پرېږده زه اجازه نه درکوم چي ولاړه سې.

هيلې په ژړغوني ږغ وويل: سمده نه ځم.

هيلې دا وويل او د ناشـتې خوړلو څخه ولاړه سـوه، پلار يي وليدل چي هغې څـه ونـه خوړل او پـه ژړا ولاړه، پلار يي مور تـه وويـل: څه وسوه؟

د هيلې مور وويل: وايي چي بابا ته ووايه چي ماته اجازه راکړې ما ورته وويل چي هغه پرېږده زه اجازه نه درکوم چي ولاړه سې.

د هيلې پلار وويل: نه پوهيږم په دې انجلۍ څه وسوه؟

تر څو شـــيبو وروســـتـه يي بيا خپلي ميرمني ته وويل: يو څه يي وخوړل؟

ميرمني يي وويل: يا هيڅ يي نه وخوړل.

د هيلې پلار خدمتګارې ته وويل: واخله دا ناشته د هغې اطاق ته ور وړه!

خدمتګارې ناشته د هيلې اطاق ته ور وړل خو هيلې بيرته ور جواب کړل چي زه يي نه خورم، خدمتګارې ناشـــته بيرته د هيلې د اطاق څخه را وايستل او پر سترخوان يي کښـيښـول، د هيلې پلار وويل: ولي دي بيرته راوړل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدمتګارې وويل: هغې ويل زه يي نخورم بيرته يي وېسه.

د هيلې پلار ډير پريشانه سو تر څو شېبو وروسته د دفتر پر طرف روان سو هلته هم پريشانه وو بيا يي تليفون راواخيستی او د هيلې استاذ ته يي زنګ ووهلی کله چي هغه تليفون اوکې کړ تر روغبړ وروسته د هيلې پلار هغه ته ټوله کيسه وکړه بيا استاذ وويل: پوهيږم چي هغه ځای خطرناکه دی خو ما هيلې ته داسي ندي ويلي چي ته شمشير غار ته دننه ورسه ما خو صرف ورته وويل چي ته د شاوخوا کليو د خلکو څخه معلومات راټول کړه.

تر څه نورو خبرو اترو وروسته د هيلې پلار وويل: خير زه به فکر پر وکړم.

د هيلې پلار چي کله تليفون کښېښوئ نو تر څو شيبو فکر وروسته يي بيرته تليفون راپورته کړ او خپل د سوداګرۍ شريک ته يي زنګ ور ووهلئ، کله چي هغه تليفون اوکې کړ نو د هيلې پلار تر روغبړ وروسته ورته وويل: اجمله ستاسو کور په کندهار کي په کوم ځای کي دی؟

اجمل وويل: په عينو مېنې ښارګوټي کي دی.

د هيلې پلار وويل: او دا شمشير غار خو زما هير دی چي په کومه ساحه کي وو د کندهار؟

اجمل وويل: ولي خير دی فرشاده څه خبره ده شمشير غار څه په کوې؟

د هيلې پلار ورته ټوله کيسه وکړه بيا يي ورته وويل: نو اوس هغې ضد نيولی دی چي حتماً ځم او ته خو پوهيږې چي زما همدا يوه لور ده زياته راباندې ګرانه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجمل وویل: فرشــــاده ســــتا لور زما لور ده د خپلې لور څخه به هم زیات پام پر هغې کوم راوایستوه هیڅ خبره نه ده بې غمه اوسه زما کور خو ښـار کې دی او شمشیر غار د کندهار په پنجوایې ولسوالۍ کې دی او خوشـبختانه زما مشـر ورور هلته شـمشـیر غار ته نیږدې اوسیږي هغه به ان شاءالله ټول معلومات ورکړي.

د هیلې پلار د اجمل څخـه مننـه وکړه بیا یي خدای په امانی ســــره واخیستی او تلیفون یي بند کړ کله چې ماښـام فرشـاد کور ته ولاړ ځ نو خپلې میرمنې ته یي وویل: څنګه ســو اغلې یو شـــی وخوړ ځ که یا؟

میرمنې یي وویل: یا ټوله ورځ د اطاقه نه ده راوتلې زما ســـره یي هم خبرې نکولې.

فرشاد وویل: کندهار کې زما یو شریک دی ما نن د هغه سره په دې اړه خبرې وکړې هغـه ډاډ راکړ چې زه یي خـدمـت کې یم د خپلې لور پڅیر به پام پر کوم نو ما هم پریکړه وکړه چې اجازه ورکم چې ولاړه سې ستا خوښه ده؟

میرمنې یي وویل: هو چې ستاسو هر څنګه خوښه یي.

فرشاد وویل: ورسه هغې ته ووایه چې ولاړه دې سي.

کله چې د هیلې مور هغې ته د اجازې وویل نو هغه ډیره خوشــحاله ســـوه بیا یي غوښــتل چې د پلار څخه مننه وکړې نو ځکه بام ته د هغه سره د خبرو لپاره ور پورته سول، خو کله چې هلته ورغله نو وېلیـدل چې پلار یي ژړل، هیلـه هغـه تـه ورغلـه او تر څنـګ یي ودریدل ویویل: بابا ته ژاړې؟

پلار یي سـترګې د اوښـکو څخه پاکې کړې بیا یي وویل: یا هغه مې داغسې سترګو کې یو شی ولویدئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیلۍ وویل: بابا زه کوچنۍ نه یم چي پر ځان پام نسم کولای خو که بیا هم ستا او د مور نه یي خوښه زه نه ځم بابا ما ته ستا او د مور خوښه مهمه ده.

فرشاد وویل: یا لورې ته ولاړه سه زه ستا لپاره انتظامات کوم ته دي سباته کارونه سم کړه امادګۍ ونیسه.

هیلۍ د پلار لاس ښکُل کړ بیا یي مننه ځني وکړه، پلار یي هم پر تندې ښکُل کړه بیا یي ورته وویل: اوس ورسه ډوډی وخوره وږې سوې به یي!

هیلۍ وویل: سمده بابا تاسو هم راځئ.

فرشاد وویل: سمده ته درځه زه پسي درځم.

وروسته هیله ولاړه او په خوښۍ یي ډوډی تیاره کړه تر ډوډی خوړولو وروسته یي خپل ملګرې ته زنګ ووهئ تر روغبړ وروسته یي هغې ته وویل: پلار مي اجازه راکړه اوس نو زه امادګۍ نیسم سبا نه بل سبا به ان شاءالله روانه سم.

ملګرې یي وویل: پخیر ولاړه سې زه هم در سره تلم خو څه وکړم کورنۍ مي هیڅ اجازه نه راکوي خو بیا هم تاته ښه سفر غواړم.

هیلۍ د هغې څخه مننه وکړه او بیا تر څو شېبو وروسته بیده سوه، کله چي سهار سو نو تر ناشتي وروسته هیله بازار ته ولاړه او څه سودا یي د ځان لپاره واخیستل او بیرته کور ته راغله، تر حمام وروسته یي خپل د کالو بسته سمول چي مور یي اطاق ته ورغله او په مسخرو کي یي ورته وویل: لورې د ځان سره احتیاط کوه ما اوریدلي دي چي کندهاریان د ښځو قدر نکوي او هغو ته د حیوان په نظر ګوري د خپل عزت ډیر خیال دې ساته که چا څه بد سلوک در سره کوئ نو چیغې او نارې وهه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیلۍ وویل: مور زه کوچنۍ نه یم چي ته ماته دا خبرې کوې.

بیا هیله موسکۍ سوه وېویل: مور زما د عزت فکر مکوه کندهاریان بچه بازان دي ښځو ته ډېر فکر نکوي.

مور يي وخندل بیا يي وویل: چپ که لیونۍ ســتا د پلار یو نیکه هم کندهارۍ وو اوس به يي ستا پلار واوري.

تر ماښـامه پوري هیله د سفر په امادګۍ مصروفه وه او وروسته تر امادګۍ بیده سول او سهار وختي کښېنستل تر ناشتي وروسته يي د اطاق څخه خپل بستې راویستي او د پلار په موټر کي يي کښېښولي او بیا د مور او پلار ســره د هوايي میدان پر طرف روانه ســول تر ټکیټ او ویزې چیک کولو وروسته خدمتګار وویل: ستاسـو طیاره پرواز ته اماده ده مهرباني ځان ور ورسوئ.

هیلۍ وویل: سمده.

وروسـته هیلې د خپل مور او پلار څخه خدای په اماني واخیسـتل او روانه ســول، د هغي په تلو فرشـــاد میرمني ته وویل: زه به موټر د پارکینګ څخه راوباسم.

کله چي هغه روان سو نو میرمن يي هم سمدستي پسـي روانه سول کله چي دباندي ووتل نو میرمني يي ولیدل چي فرشاد موټر ته څنګ اچولی دی ژاړي میرمني يي ورته وویل: زموږ لور مړه ســوې نده بیرته راځي د یو څو ورځو خبره ده.

فرشـــاد خپل میرمن پـه غېږ کي ونیول او یو و بل ته يي ډاډګیرنه ورکول، هیله په طیاره کي خپل پر چوکۍ کښــینســتل او بیا تر څو شـیبو وروسـته طیارې پرواز وکړ، د طیاري په پرواز سـره د هیلې مور او پلار ورته وکتل او بیا پریشانه دواړه د کور پر طرف روان سـول تر څو سـاعتو پرواز وروسته طیاره د کندهار په میدان هوايي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي کښېنستل پیلوټ وویل: د کندهار ولایت د احمدشاه بابا هوایي میدان ته پخیر راورسیدو د کښته کیدلو لپاره اماده سئ.

ټول اماده سول او بیا د طیاري تر دریدو وروسته ټول کښته سول، هیله د کښته کیدو سره سم څه وارخطا غوندي سوه خو چي د هوایي میدان د کارکونکو مسکا یي ولیدل چي یو او بل ته یي په مسکا خبري سره کولي زړه ډاډه سو او بیا د ترمینل پر طرف روانه سول کله چي تر ترمینل ووتل نو ټکسیوان ورته وویل: السلام علیکم خوري.

هیلې وویل: وعلیکم السلام.

ټکسیوان وویل: راځه خور زه به دې تر دروازې ورسوم ځکه دروازه د ترمینل څخه لیري ده.

هیلې وویل: زما د پلار دوست راغلی دی هغه به اوس راسي.

ټکسوان وویل: تر دروازي پوري همدا ټکسیاني دي د دروازي مخته به هغه درته انتظار یي راځه زه به دي تر دروازې ورسوم.

هیلې ور سره ومنل او بیا په ټکسي کي کښېنستل او روان سول په لاره کي ټکسوان وویل: خوري اول وار دي دی چي کندهار ته راغلې یي؟

هیلې وویل: هو.

تر څه تګ وروسته ټکسوان موټر د یو دوکان مخته ودروئ بیا کښته سو او دوکان ته ننوتئ هیله حیرانه سول چي دا څه کوي خو تر څو شیبو وروسته ټکسوان راووتئ پلاس کي یي د اوبو بوتل او یو کیک ور سره وو هیلې ته یي د ټکسي د کلکین څخه ونیول ورته وېویل: خور دا وخوره ته به وږې سوې یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیلې اوبه او کیک څني واخیستل او ترڅنګ یي کښېنول فکر یي کوئ چي داسي نه د نشي دوا یي پکښي اچولي یي نو ځکه یي ونه خوړل.

ټکسوان چي کله ټکسي کي کښېنستی بیا یي وویل: وبخښه خور همدا مي په وس کي وه د څو ورځو راهیسي همدلته بیکاره ولاړ یو کله چي نظام واوښتئ نو په اونیو اونیو پرواز او مسافر نه یي پیسي مي نه دي پیدا کړي که نه ډیر څه مي درته را اخیستل.

هیله د ټکسوان پر مهربانۍ حیرانه سول بیا یي وویل: نه وروره هیڅ خبره نه ده همدا کفایت کوي مننه.

تر څو شیبو وروسته دروازه راورسیدل ټکسوان وویل: خور دروازه راورسیدل تاسو درځئ زه به بستې پسي دروړم.

ټکسوان بستې راکښته کړې او تر دروازې پوري یي د هیلې سره ویوړي، کله چي روانیدئ نو هیلې ورته وویل: څومره پیسې درکړم.

ټکسوان موسکی سو بیا یي وویل: تاسو کندهار ته اول وار راغلي یاست او مور د میلمنو څخه پیسې نغواړو.

هیله حیرانه سول بیا یي وویل: نه نه تاسو ووایست څومره درکړم.

ټکسوان وویل: یا خور ما وویل چي مور د میلمنو څخه پیسې نغواړو.

هیلې ورته وویل: تاسو جالب خلک یاست د څو ورځو راهیسي دلته ولاړ هم یاست او څه ګټه وټه مو هم نده کړې او د میلمنو څخه پیسې هم نغواړئ نو ستاسو کورنۍ به څه خوري که تاسو زما څخه پیسې وانخلئ نو زه به سخته خوابدې سم.

ټکسوان موسکی سو بیا یي وویل: یا یا خور خدای دي نکوي چي تاسو به زما څخه خوابدې کیږئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا هیلۍ د بټوې څخه سل ډالر راوکښلي او ټکسوان ته یي ورکړي ورته ویویل: ها واخله بس دي همدومره که نوري درکړم؟

ټکسوان وویل: یا خور دا خو ډیري زیاتي دي زما ډیري لږ پیسې کیږي دا واخله او لږ راکړه.

هیلۍ ورته وویل: ټولي واخله د خور لخوا یي تحفه وګڼه که دې بیرته راواپس کړې نو زه به سخته خفه سم.

ټکسوان وویل: مننه خوري الله دي خوشحاله لره.

هیله د موټره روانه سوه او د دروازې پر طرف رهي سول کله چي دروازې ته ورسیدل نو د پلار ملګری یي اجمل ورته راغلی ویویل: که تیروتلی نه یم تاسو به هیله یاست؟

هیلۍ وویل: هو کاکا زه یم.

اجمل تر روغبړ وروسته وویل: زما سره راځی!

هیله په اجمل پسي روانه سول او تر څه تګ وروسته اجمل د موټر دروازه خلاصه کړل هیلۍ ته یی وویل: دا بسته ماته راکه شاته به یي کښیږدم ته موټر ته پورته سه.

هیلۍ بسته ورکړل او بیا تر څو شیبو وروسته د ښار پر طرف روان سول.

په لاره کي اجمل وویل: څنګه سو سفر دي پخیر سو کوم مشکل خو به نه وو؟

هیلۍ وویل: یا کاکا ښه وو هیڅ مشکل نه وو.

بیا هیلۍ وویل: موږ اوس چیري ځو کاکا؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجمل وويل: اوس يو وار زموږ کور ته ځو چي يو ورځ و دوې دي استراحت وکړ بيا به دي د شمشير غار د ليدو لپاره پنجوايې ولسوالۍ ته زما د مشر ورور کورته بوځم د هغه کور هلته دی.

هيلې وويل: ښه ښه ستاسو کور هلته نه دی؟

اجمل وويل: يا زما کاروبار ښار کي دی نو ځکه هره ورځ بيا هلته نسوای تللای زما کور په عينو مېنه کي دی دا د هوايي ميدان سړک چي خلاص سي بيا د کابل او بولدک ولسوالۍ دوه لارې (دوراهي) مخته راځي د کابل پر سړک باندي عينو مېنه ده چي په کوچنۍ امريکا هم مشهوره ده.

هيله موسکۍ سوه بيا يي وويل: کوچنۍ امريکا څنګه؟

اجمل وويل: عينو مېنه داسي يو ساحه ده چي کورونه يي ټول پر خاريجي نقشه جوړ دي نو ځکه ورته کوچنۍ امريکا وايي.

تر څو شيبو وروسته عينو مېنه راورسيدل، اجمل موټر کورته ننايستئ، تر کښته کيدو وروسته د اجمل کورنۍ د هيلې تود هرکلی ووايه بيا يي کور ته دننه دعوت کړل، تر معرفت وروسته د اجمل ميرمني وويل: هيلې ته به ستړې سوې يي هغه مخامخ ستا اطاق دی هلته ولاړه سه حمام هر څه سهولت په کښي سته که بيا هم څه ته اړتيا سوه مازي ږغ راکوه.

هيلې وويل: مننه خاله جاني ژوندۍ اوسې.

بيا هيله اطاق ته ولاړل تر حمام وروسته خدمتګاره راغله ويويل: اغلې تاسو ته ډوډی همدلته برابره کړم که يي دباندي د ټولو سره خورې؟

هيلې وويل: زه درځم د ټولو سره به يي وخورم.

خدمتګارې وويل: سمده اغلې ډوډی نوره تياريږي بيا راسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیلۍ وویل: سمده تاسو درځئ زه درځم.

تر ځان تیارولو وروسته هیله د ډوډی خوړلو لپاره دباندي ور ووتل او پر سترخوان ورسره کښینستل، پر سترخوان ټولو د هیلۍ مخته خوراکي شـــیان ور اړول یوې بـه ویل هیلۍ دا وخوره بلي به ویل هیلۍ دا وخوره، هیله به موسکۍ سوه ویل به یې چې بس ده نور مي زړه نـه ورته کیږي خو هغو به نور ور اړول، هیله تر زیاتي ډوډۍ خوړلو وروسته ولاړل بیده سول، د همدې ورځې تر تیریدو وروسته هیلۍ اجمل ته وویل: کاکا نور به زه خپل منوګراف شروع کړم هیله کوم ما مي تر هدفه ورسوئ.

اجمل وویل: یو څـه وخت اســـتراحت وکه بیابه دي ولســـوالۍ ته ورسوم.

هیلۍ وویل: استراحت مي وکړ نور ضرورت نسته ورته بیابه هلته هم استراحت وکړم.

اجمل وویل: سـمده چي ښڅګه سـتاسـو خوښــه یي هلته زما د مشـر ورور کور دی ته به د هغه سره اوسیږې.

هیلۍ وویل: سمده کاکا.

اجمل وویل: ته ورسه ځان تیار که زه به موټر تیار کم.

هیلۍ وویل: صحي دی.

هیلۍ ځان تیار کړ بیا د تګ لپاره دباندي ووتل موټر تیار وو هیلۍ د ټولو څخه خدای په امانی واخیســـتۍ او بیا د پنجوایي ولســـوالۍ پر طرف روان سول، تر یو ساعت مزل وروسـته د پنجوایې ولسوالۍ بازار ته ورسـیدل او بیا د شـمشـیر غار د کلې پر طرف وګرځیدل چي تر څو شــېبو وروســته کلی راورســیدی اجمل وویل: دا زموږ پلرنۍ کلی دی زه هم دلې پیدا سوی یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیلۍ وویل: ماشاءالله ډیر ښایسته کلی دی.

وروســـته یو لوی د کلا پخیر کور راورســـیدی اجمل موټر په هغه کور دننه کړ د موټر په لیدو ټولو کوچنیانو نارې کړې: هلۍ هغه ده هیله او کاکا راغله هغه دی هیله او کاکا راغله.

په دې سره څو ښځې او نارینه چې یو په تنه لوی پوخ عمره سړی هم ور ســره وو په موســکا دباندې راووتل هیلۍ په موســکا وویل: کاکا د دوی زما نوم څه زده دی؟

اجمل هم موسکی سو بیا یې وویل: کله چې ستا پلار ماته وویل چې تاسو شمشیر غار ته راځی نو ما دوی هم خبر کړل نن سهار مې بیا زنـګ ور تـه راووهلی چې موږ در روانیږو نو ځکه ټول درتـه پـه تمه وه.

کله چې اجمل او هیله د موټره کښته سول ټولې ښځې د هیلۍ سـره په روغبړ اخته سوې اجمل هم خپل مشر ورور ته ورغلی لاس یې ور ښکُل کړ کله چې هیله د ښځو د روغبړه فارغه سول اجمل ورته وویل: هیلۍ دا زما مشـر ورور قلندر خان دی موږ ورته مشـر لالا وایو.

هیلۍ د قلندر خان سره روغبړ وکړ او د هغه د عزت لپاره یې لاس ورته ښــــکُل کړ قلندر خان هغه پر تندې ښــــکُل کړل بیا یې وویل: ژوندۍ اوسې لورې زموږ دا کوچنۍ جونګړې ته ښه راغلاست.

هیلۍ وویل: یا کاکا ستاسـو کور ماشـاءالله ډیر ښـایسـته دی په ټول کلې کې معلوم دی موږ چې کله کلې ته را داخل سوو او دا کور مو ولیدی نو پوه سوم چې دا به د اجمل کاکا دوی کور وي.

قلندر خان په خندا سو بیا یې وویل: افرین لورې ډیره چالاکه یې.

هیلۍ په موسکا وویل: مننه کاکا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجمل خپل ورور ته وویل: مشـر لالا زه ځم چي کار لرم که د هیلې کوم څـه تـه اړتیـا کیـدل نو بیـا یو زنـګ راوهئ زه بـه یي ورتـه را رسوم.

قلندر خان وویل: هیله یوازي ســتا نه بلکي زموږ هم میلمه ده او ته خو پوهیږې چي موږ د نیکـه ګـانو څخـه دا رواج لرو چي خپلـه کـه وږي هم بیـدیږو خو میلمـه تـه پـه مـاړه نس ډوډۍ ورکوو ددې چي هره اړتیا وه زه یي ورپوره کوم ته ځني خلاص یي.

اجمل وویل: مننه مشر لالا.

قلندر خان وویل: چیري ځې خو دلته یو څو ورځې راسره پاته سه.

اجمل وویل: یا مشـر لالا هلته مي ښـار کي کارونه ډیر پاته دي هغه سرته رسوم چي زه نه یم ټول نیمګړې پاته وي.

قلندر خان وویل: اځه نو ورسه د هیلې د خدمت لخوا بیغمه اوسه.

بیا اجمل هیلې ته وویل: هیلې زه ځم په اونۍ کي یو وار د جمعې په ورځ راځم احوال دي اخلم همدلته در ســره پاته کیدم خو باور وکړه چي سخت مصروفیات دي.

هیلې وویل: یا کاکا کومه خبره نه ده تاســو ورســئ خپل کارونه مو وکړئ مشر لالا سته هغه ته بیا که کوم څه ته اړتیا وه وایم.

وروسته اجمل د ټولو څخه خدای په امانی واخیستی او ولاړئ

قلنـدر خـان خپلي میرمني تـه ویـل: هیلـه لور بوځـه خپـل اطـاق ور وښیه هر اطاق چي ددې خوښ وو ور خالي یي کړه.

میرمني یي وویل: صحي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قلندر خان میرمني هیله دننه د کور صــالون ته بوتله بیا یي وویل: دا لاندې اطـاقونه دې خوښ دي که لوړ چي ســـتا هر یو خوښ یي هغه به زه زما مړندو ته ووایم چي در خالي یي کړي.

هیلې وویل: هغه لوړ اطاقونه خالي دي؟

د قلندر خان میرمني وویل: هو هغه خالي دي هغه زما هم ستا لپاره خوښ دي ځکـه هغـه لوړ دي د کور دبـانـدي بـاغونـه او بغلتـه یي غرونه هم معلومیږي.

هیلې وویل: صحي دی خاله هغه اطاق مي خوښ دی.

د قلندر خان میرمني خپل مړور ته وویل: هغه لوړ اطاق دي صـــفا کړیدی لورې؟

مړور یي وویل: هو مور جاني صفا مي کړ.

د قلندر خان میرمني هیلې ته وویل: راځه هغه اطاق وګوره.

کله چي هیله او د قلندر خان میرمن لوړ پورته سول نو د هیلې اطاق تـه ننوتـل هیلې چي اطـاق او د اطـاق پـه کلکین کي دبـانـدي منظره ولیدل نو ډیره خوشحاله سول بیا یي وویل: واو څومره ښکلې منظره ډیر ښایسته اطاق دی ډیر مي خوښ سو همدا صحی دی خاله جاني.

د قلندر خان میرمني وویل: بیا هم لوري که دي نسو خوښ راته وایه داسي یي وګڼه لکه خپل کور چي دي وي.

هیلې وویل: ډیره مننه خاله جاني ســمه ده که مي نســو خوښ بیا به درته ووایم.

وروســـته د قلندر خان میرمن ولاړه هیلې خپل ســـامان د بســـتي راویســتئ او په اطاق کي یي ځای پر ځای کړ بیا د څو شــېبو لپاره پر کټ پریوتل د استراحت لپاره کله چي د هیلې سترګي پټي سوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو خوب کي يي وليدل چي دوه لوی سپيان پسي ځغلي دا چغې وهي چي ومي ژغورئ ومي ژغورئ، بيا يي پلار ور پسي ناره کړه چي نـه مي درتـه وويل چي مـه ځـه خو تـا نـه منل بيا چي کله خوب کي سپيان ور ورسيدل او پر دې يي حمله وکړه نو په دي وخت کي يي لويه چغه وکړه او د خوبه راکښـينسـتل شـاوخوا يي وکتل پر مخ يي خولې رايله وې بيا يي د ځان سره وخندل تر څو شـېبو وروسـته يي د اطاق دروازه خلاصه سول خدمتگارې وويل: ډوډۍ تياره ده.

هيلې وويل: سمده درځم.

تر څو شـېبو وروسـته چي کله هيله د ډوډی لپاره لاندې کښـته سـول نو وېليدل چي په صــالون کي ســترخوان اوار دی ټول ورته ناســت دي او دې ته انتظار دي، کله چي دا سـترخوان ته ورسـيدل نو قلندر خان وويل: هيلې لورې تاسو زموږ سره دلته يو ځای ډوډۍ خوری او که جلا ســـترخوان درته اوار کړې زموږ کندهاريانو همدا رواج دی چي ټول يو ځای او پر سترخوان ډوډۍ خورو که ستا دا زموږ رواج نه يي خوښ ميز او چوکۍ هم ســـته تاته به پر ميز ډوډۍ در تياره کړې.

هيلې وويل: يا کاکا ماته سـتاسـو رواج ډير ښــه خوند راکوي زه هم افغـانۍ يم خو دا چي بلـه ټولنـه کي اوســـيږم او هلتـه زيږيدلې يم نو ځکه څه ناڅه خپل رواجونه راڅخه پاته سوېدي.

بيا هيله د قلندر خان د يوې مړوور تر څنګ کښــينســتل او په ډوډۍ خوړولو يي شــروع وکړه تر څو شــېبو وروســته د قلندر خان زوی ســديس خپل د ميرمني عايشــې مخته غوښــي ور واړولې هغي په کرار اواز ورته وويل: واخله ويخوره مه يي را اړوه ماته.

سديس وويل: يا يا واخله ته يي وخوره ما ډيري وخوړلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عایشــــې وویل: همداســــي وایي زما در پکښــــي فکر وو نه دي دي خوړلي ماته دي را ساتلي وې.

سدیس وویل: واخله نو کنه بیا خفه کیږم.

هیلې د دوی خبرې اوریدلي بیا عایشې هغه غوښي واخیستي او خپل مخته یي کښیښولي بیا یي هیله په ځنګل کرار ووهل ورته ویویل: دا وخوره.

هیلې وویل: یا مننه دا دی دلته زما غاب کي هم سته.

هیلې تر څو شیبو وروسته عایشې ته وویل: څومره وخت مو د واده کیږي؟

عایشه حیرانه سول بیا یي وویل: څه؟

هیله موسـکۍ سـوه بیا یي وویل: سـتا او د خاوند دي څومره وخت د واده کیږي؟

عایشې وویل: تقریباً لس کاله کیږي.

هیله حیرانه سـول بیا یي وویل: ماشـاءالله څومره ښـه تر اوسـه مو مینه دا دی هم هغسي د پخوا پڅیر ده داسي نه معلومیږي لکه ستاسو د واده چي لس کاله تیر سوي وي.

عایشـــه وشــرمیدل بیا یي مخ د هیلې څخه واړوئ تر ډوډۍ خوړلو وروسـته چي کله سـترخوان ټول سـو نو قلندر خان ووتی او تر یو درختي لاندي کښـینسـتی هیله چي خپل اطاق ته ولاړه نو د کلکین څخه دباندي یي قلندر خان ولیدئ بیا یي قلم او کتابچه واخیستل او د قلندر خان خواته ورغله تر سـلام وروسـته یي تر څنګ کښـینسـتل ویویل: کاکا زه به په خپل کار شـروع وکړم غواړم معلومات ولیکم نو تاسـو د شـمشـیر غار په اړه معلومات راکړی او د هغه تر څنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو ایست چي کله ځو چي شمشیر غار د دننه ووینو هلته ننداره وکړم او بیا معلومات ولیکم.

قلندر خان وویل: هیلۍ لوري ته زمونږ میلمنه یې الله دي تل راوله همدا ستا خپل کور دی چي هر څومره وخت تیروې مونږ خوشحاله کیږو خو لورې ستا په خاطر وایم چي ددې خطرناکي موضوع تیره سه ولي ناحقه خپل ژوند بربادوې زمونږ د کور څخه دریم کور دی د هغه کور یو ځوان هلته ماښامي مهال تللی وو خاشاک یې ټولول هلته بیریدلی وو اوس یې عصاب د لاسه ورکړیدي لیونی دی په ځنځیرانو یې تړلی دی.

بیا قلندر خان وویل: داسې ۱۲ کاله مخکي د کلي څو ځوانانو غوښتل دننه غار ته ننوځي او هلته چي ویل کیږي سره زره او خزاني دي هغه راوباسي خو کله چي دننه ورغله هلته ورک سوه څو کلونه ورک وه چي بیا یې کورنیو یو بزرګ او د خدای ولي پیر صاحب ته ډیري زاریٰ او ننواتي کړې وې چي راسره ولاړ سه دننه غار ته او ددې ځوانانو معلومات وکړه راسره بیا هغه ور سره تللی وو چي تر څه تګ وروسته یې د هغو ځوانانو هډوکي پیدا کړل دې غار ته تر اوسه څوک تر ډیره ندي ورغلي.

هیلۍ وویل: تاسو څه فکر کوئ چي هلته به څوک وي کاکا؟

قلندر خان وویل: د اولیاؤ کرامو له قوله دا د پیریانو او جنیاتو یو لوی ښار دی ځکه د غار په شروع کي هم معلومیږي چي لوی لوی حوضونه او برجونه دي او د یو ښار په شکل معلومیږي د کندهار مشهوره پیر بابا صاحب رحمة الله علیه چي په ارغنداب ولسوالۍ کي یې مقبره ده هغه او یو مُرید ملګرى یې دې غار ته څو کلونه وړاندې دننه ورغلي وه کله چي دننه ورتله نو بابا صاحب خپل ملګري ته وویل چي ګوره تر شا راپسې سه مګر چي پام دي وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې هيڅ شــــي ته هم لاس ور نه وړې خو کله چې مخته تللې وه نو هلته د ســـرو زرو خښـــتې پرتې وې د بابا صـــاحب ملګري د بابا صاحب په پټه يوه خښته را اخيستې وه تر څه مزل وروسته چې بابا صاحب خپل ملګري ته وکتل نو هغه روان وو خو سر يې نه وو بيا يې د الله جل جلاله په مرسته او خپل په کرامت د خپل ملګري سر بيرته د هغه پر تن ور کښېښوئ او سخت يې تحقير کړ.

هيلې د قلندر خان خبرې واوريدې بيا تر څه نورو خبرو وروســـته خپل اطاق ته ولاړه هلته يې د ځان سره وويل: دا څومره ناپوه خلک دي چې پر داسي خبرو باور کوي نه پوهيږم چې اوس څه وليکم که دا خبرې وليکم نو هلته به په پوهنتون کې د ټولو د پســـخند ســـم او ټوکې به راباندې شروع کړې دا کندهاريان خو هم څه ووايم ټول يې پير پرست او زيارت پرست دي خير يو څه به وليکم خو دا اضـافه خبرې بـه ځني ليرې کړم کـه نـه دوی خو د خندا دي تر څنګ به ما هم د خندا کړې.

هيلې په ليکلو شروع وکړه تر څو شپېو وروسته د قلندر خان ميرمن اطـاق تـه ورغلـه هيلې تـه يې وويـل: ها لورې دا انار واخله ويخوره کندهاري انار دي.

هيلې وويل: تاسو تر ما مشراني ياست دومره تکليف مکوئ؟

د قلنـدر خـان ميرمنې وويـل: موږ د ميلمـه خدمت کول د ځـان ويـاړ ګڼو او په دې سره خوشحاليږو.

هيلې وويل: خاله د انار ولي داســي کلک دي او اوس خو يې موسـم هم ندی نو دا بيا څنګه پاخه سول؟

د قلندر خان ميرمنې وويل: کله چې د انارو د ختميدو وخت ســي نو بيـا زموږ نـارينـه يو څو درختې د کور لپـاره پريږدي د ژمي لپـاره موږ خو يخچالونه نلرو د ميوو لپاره بيا يې ځني خلک د خاشـو منځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي ايږدي او تر خاورو لاندي يي ښــــخوي ځني يي بيا په اطاقونو کي راځړوي تر ژمي پوري بيـا يي ژمي کي خوري موږ اطـاقونو کي راځړولي دي نو ځکه داسـي کلک دي هغه چي په خاشـو کي په مځکه کي ښخيږي هغه بيا داسي وي لکه تازه چي شکيدلي وي.

هيله حيرانه سول بيا يي وويل: دا خو ډير جالبه تخنيک دی.

تر څه باندار وروسـته د قلندر خان ميرمن ولاړل هيلې انار په خوند سره وخوړل تر څو شپږو وروسته يي بيا په ليکنه پيل وکړ کله چي ماپښــين ســو نو يو کوچنی اطاق ته ورغلی ويويل: هيلې خور نيکه جان وايي راځه ځو شمشير غار ته.

هيلې وويل: سمده ته درځه زه پسي در روانه يم.

تر څو شـپږو وروسـته چي کله هيله لاندي ور کښـته سـول نو قلندر خـان ورتـه وويـل: راځـه لورې بيـا مـازديګر کيږي اوس بـه وختي ورسو د نږدي به يي و وينې.

هيلې وويل: سمده کاکا.

قلندر خان خپلي ميرمني ته وويل: راځه ته هم راســـره ولاړه ســـه مږندو ته دي هم ووايه هغو به هم ديغت کړی وي.

د قلندر خان ميرمني خپل مږندو ته اشاره وکړه چي راځی هغوی را رواني ســـوې بيا قلندر خـان هيلې تـه وويل: راځه لورې دوی لار ليدلې ده ما و تا به روان سو دوی به راپسي راسي.

هيلـه او قلنـدر خـان روان ســـول پر لارې قلنـدر خـان هيلې تـه خپل جايدادونه او مځکي ور ښولي معلومات يي ورکول چي تر څو شپږو وروسـته غر راورسيدی چي په بغل کي يي کوچنی لار ورختلې وه د ختلو مخکي قلندر خان يو نفر ته ور ناره کړه ويويل: عبدالله؟

عبدالله وويل: ها ملک صاحب.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قلندر خان وویل: زه او دا میلمنه او کورنۍ مو دا غره ته خېژو شمشیر غار ته ستاسو کور تر غره لاندي دی بښځینوو ته دي ووایه چي د یو څه وخت لپاره اطاقونو ته ننوځي.

عبدالله وویل: سمده ملک صاحب زه به ورته ووایم او دا میلمنه خور داسي معلومیږي لکه چي د خاریج څخه راغلې ده.

قلندر خان وویل: هو د اجمل د ملګرې لور ده د شمشیر غار لیدو ته راغلې ده.

عبدالله وویل: بیا خو نو باید زموږ میلمنه هم سي یو ښه کورنۍ چرګ لرم که زموږ سره میلمنه کیږي خو زه به یي کور کي ورته حلال کړم که نه نو بیابه یي ستاسو کورته در ولیږم.

قلندر خان وویل: یا ژوندی اوسې هر څه سته کور کي.

عبدالله وویل: یا داسي نسي کیدای تاسو غره ته وخیږئ چي راکښته کیږئ ان شاءالله چرګ به حلال او د ښکو پاک سوی وي.

قلندر خان وویل: سمده موږ به ورسو بیا ناوخته کیږي.

عبدالله وویل: پر الله مو سپارم.

قلندر خان څو شیبې انتظار وو بیا یي هیلې ته وویل: راځه لورې.

بیا ټول غره ته وختل تر څو شیبو وروسته یو دره راورسیدل په دې دره کي چي څه مخته ولاړل نو شمشیر غار راورسیدئ کله چي دننه ورغله نو د دوی په ورتګ سره ډیر شوپرکان راووتل د غاره، هیلې خپل موبایل راویستئ عکسونه یي اخیستل چي په تګ تګ کي دننه غار ته ولاړه بیا قلندر خان وویل: هیلې لورې راووځه بیرته دننه مه ځه.

هیلې وویل: سمده کاکا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په غار کي دننه تياره وه هيڅ نه معلوميدل خو په سر کي داسي څه معلوميدل چي فکر کيدى د يو ودانۍ ميلان ولاړ دي او فکر نکيږي چي دا ځاى طبعي هم داسي جوړ دى، تر څو شيبو وروسته مازديګر سو قلندر خان پر خپلي کورنۍ ږغ وکړ چي نور درځئ، هغوى ټولي ولاړې سوې او د کور پر طرف روان سول کله چي تر غره کښته سول نو عبدالله ورته ولاړ وو د هيلې سره تر روغبړ وروسته يي قلندر خان ته حلال سوى چرګ ورکړ ورته ويويل: خان صاحب دا چرګ دا زموږ ميلمني خور ته ور پوخ کړه.

هيلې وويل: ولي مو ورور جانه تکليف کوئ؟

عبدالله وويل: يا خور هيڅ تکليف نه دى ميلمه د خداى رحمت دى موږ يي کورو ته راتګ يو خوشبختي ګڼو.

کله چي ماښام سو تر ډوډۍ خوړلو او څه مجلس وروسته هيله خپل اطاق ته ولاړه د قلندر خان يو مړور هم د هغي اطاقه ته ورغله تر څو شيبو پوري يي د هيلې سره باندار وکړ بيا يي ورته وويل: سمده هيلې خور زه ځم خاوند به مي راته انتظار يي ته به هم نوره بيديږې.

هيلې وويل: هو يو څه ليکنه کوم بيا بيديږم تاسو ته ښه شپه غواړم.

بيا د قلندر خان مړور ولاړه هيله په خپل اطاق کي يوازي پاته سوه، هيله په ليکنه بوخته وه چي ددې د اطاق د کلکين پر مخامخ په درخته کي د يوې چوغکې ږغ سو د هيلې ورته فکر نه وو خو د هغي چوغکې زياتو ږغو د هيلې پام ور واړوئ کله چي هيلې هغه چوغکې ته وکتل نو هغه چوغکه هم هيلې ته ګوري او نارې وهي هيله حيرانه سول چي دا مهال کله چوغکې وي چي دا چوغکه دلته نارې وهي خو وروسته يي فکر بيرته خپل ليکني ته سو خو تر څو شيبو وروسته نورې چوغکې هم هغې درختي ته راغلې او ږغونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يي سول هيلۍ يو وار بيا درختي ته وکتل هلته يي وليدل چي پر هغه اولي چوغکې نوري چوغکې چاپيره دي د هيلۍ د اطاق طرف ته ګوري او ناري وهي بيا ټولي والوتلي او ولاړې هيلۍ هم تر څو شيبو وروسته خپل کتابچه بنده کړه او کټ ته ولاړه چي بيده سي کله چي يي سترګي پټې سوې نو هغه چوغکه بيا يوازې راغله او په درخته کي يي نارې کړې خو چي وېليدل هيله کلکين ته نږدي نسته نو کلکين ته نږدي کښينستل او نارې يي کړې خو هيله بيده وه بيا تر څو شيبو هلته ارامه ولاړه وه بيا والوتل کله چي سهار سو هيله د اذان پر ږغ د خوبه راکښينستل چي غوږ يي ونيوئ نو دباندي د يو څه ږغ وو کله چي يي کلکين کي وکتل نو قلندر خان د څاه څخه اوبه راکښلي ميرمني يي د اوبو لوښې ورته نيولي وه ډکول يي هيلۍ هغو ته وکتل وروسته خپل کټ ته راغله او پريوتل تر څو شيبو همداسي پرته وه چي بيا رڼا سوه او دباندي ووتل، کله چي د څاه خواته ورغله د قلندر خان ميرمني د اوبو لوښی ورته ونيوئ وييل: واخله لورې په دې اوبو اودس وکړه.

هيلۍ لوښی واخيستی او د تشناب په طرف ولاړه تر اودس او لمانځه وروسته چي کله دباندي ووتل نو وېليدل چي ټول د سهار چايو ته ناست وه چای يې خوړلې هيله يي هم تر څنګ کښينستل قلندر خان وويل: څنګه سو هيلۍ لورې شپه دي پخير سوه؟

هيلۍ وويل: هو کاکا پخير سوه پر تاسو هم پخير سوه؟

قلندر خان وويل: هو الحمدالله پخير سوه.

هيلۍ تر چايو خوړلو وروسته خپل کتابچه واخيستل او ليکنه يي شروع کړه بيا د کور څخه دباندي د قلندر خان د يو زوی سره ولاړل او د کليوالو سره يي خبرې اترې وکړې د هغو څخه به يي د شمشير غار په اړه معلومات پوښتل کليوالو به معلومات ورکول او

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا به هیلې لیکل کله چي ماښام سو هیلې خپل لیکنې اصلاح کولې چي یو وار بیا د تیري ورځې د چوغکې ږغ ســو خو د هیلې ورته فکر نســو بیا تر څو شــپېو وروســته هغه چوغکه د هیلې د اطاق کلکین تـه راغلـه او نـارې یي کړې د هغـه د ږغ پـه اوریـدو هیلـه حیرانـه ســول بیـا یي پـه حیرانتیـا د هغـه چوغکې خواته وکتل هغه چوغکه هیلې تـه ګورې او نـارې وهي خو کلـه چي یي ســترګي د هیلې د سترګو سره برابرې سولي نو نارې وهل یي پریښول او بیا تر څو شېبو وروسته والوتل هیله ولاړه سوه او پسي وېکتل چي هغه چیري ولاړه کله چي یي هغه ولیدل نو هغه د شــمشــیر غار خواته روانـه وه هیلې هغي چوغکې تـه کتـل چي یو دم یي د اطـاق دروازه خلاصــه ســول هیله په دې ســره ســخته وبیریدل خو چي شــا ته یي وکتل عایشه وه عایشه هم حیرانه سول چي هیله ولي وبیریدل بیا یي ورته وویل: څه خبره ده هیلې خور؟

هیلې وویل: هیڅ نه.

عایشې وویل: نو بیا ولي وبیریدې؟

هیلې وویل: هغه عایشــې! د تیري ورځې راهیســي دلته یو چوغکه راسي ماته ګوري او ناري وهي مځکي هلته په درخته کي کښینستل خو نن دلته کلکین ته راغله ماته یي کتل او نارې یي وهلې.

عایشــې وویل: دلته باغونه او مځکي دي شــاید د هغو څخه را الوتي وي دا خو ښــار نه دی صــحرا ده مرغان او الوتونکي ډیر لري خو بیا هم که هر وخت بیریدې ماته وایه زه درته راځم که ســتا خوښــه وي زه به همدلته در سره بیدیږم.

هیلې وویل: ښــــه خبره ده همدلته بیدیږه خو زه د شــــپې تر ناوخته ناســته یم ته به راســره بدخابه ســې او ســتا خاوند به اجازه هم نه درکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عایشې وویل: یا خور کومه خبره نه ده زه در سره بیدیږم خاوند مي هیڅ نه وایي.

هیلې وویل: سمده.

بیا عایشــې خپل بیســتره راوړه او لاندي یي هواره کړه هیلې ورته وویل: پر کټ پریوزه زه به لاندي بیده سم.

عـایشـــې وویل: یـا مـاتـه پر کټ خوب نـه راځي زه همـدلتـه لانـدي بیدیږم.

بیا تر څه باندار وروســته هیله او عایشــه بیدې ســوې تر څو شــپېو وروسته بیا هغه چوغکه راغله خو چي وېلیدل هیله بیده ده نو نارې يي ونه وهلې تر څو شــپېو یي هیلې ته کتل بیا یي د عایشــې خواته وکتل او د ځان سره يي کرار ناره وکړه بیا والوتل.

سهار تر ناشتې خوړلو وروسته د کور په غولې کي قلندر خان خپل یو زوی تـه چي مختـه یي نـاســـت وو نصـــیحت کاوه ورتـه ویویل: داغسي لټ عادت سوې کار نکوې ټوله ورځ ته یي همدا فیسبوک او ګیمونه دي چي ګورې یي.

تر څه نور نصــیحت وروســته قلندر خان څادر پر اوږه واچوئ او دبـانـدي ووتـئ هیلـه د قلنـدر خـان د زوی محمود خواتـه ورغلـه ورتـه ویویل: کاکا ولي داسي دردیدلی وو درته؟

محمود وویـل: هر کلـه چي مي ووینـي همـدا خبرې راتـه کوي اوس یي ددي کوره زړه رامـات کړیـدی چي نور ددي کوره لیري ولاړ سم.

هیلې وویـل: لیونیـه د هیڅ یو پلار پر زوی بـد الفـاظ نـه دي فیرزو هغه خو ســتا لپاره وایي نیټ کتل او ګیم کول یو داســي مصــروفیت دی چي کلـه څوک پـه معتـاد ســـي نو هر څـه ورڅخـه واخلي یعني

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاروبار یي ځني پاته یي د کورنۍ سـره ناسـته ولاړه ځني پاته یي رواني حالت ته ځوک بیایي په ژور خپګان یي اخته کوي داسـي په سل هاوه نور تاوانونه لري.

محمود وویل: هیلۍ خور کار په پیسـو کیږي زه چي بابا ته ووایم چي پیسـې راکړه خو دی یي نه راکوي هلته بیا راته وايي چي لټ یي کار نکوې زه کار په څه شي وکړم؟

هیلۍ وویل: د کـار لپـاره پیسـو تـه نه بلکي تجربې ته اړتیا ده چي تجربه ولرې هر څوک به پیسې په زاریو درکوي کاکا جان پوهیږي چي تاسـو په کوم کار کي تجربه نلرئ نو ځکه پیسـي نه درکوي ته په یو کار کي تجربه تر لاسه کړه که کاکا جان پیسي نه در کړې زه یي درکوم سـتا په ملګرو کي به داسـي څوک وي چي کاروبار کوي د هغو سره په کاروبارې ځای کي ناسته ولاړه کوه یا ور سره منشي سه چي هر کله دي کار ور څخه زده کړ بیا خپل کار جوړ کړه.

محمود وویل: سمده هیلۍ خور همداسي به وکړم.

هیلۍ محمود ته تر خبرو وروسـته یو وار بیا خپل کتابچه خلاصـه کړل په لیکنې یي شـروع وکړه تر غرمې پوري یي لیکنه کول چي بیا وروسـته د ډوډۍ وخت سـو تر ډوډۍ خوړلو وروسـته چي کله خپل اطاق ته ولاړه نو پر کټ داسي پریوتل چي مخ یي د کټ خواته وو او شـا یي د اطاق د چت خواته وه تر څو شـېبو پورې همداسـې پرته وه چي بیا یي ناڅاپه پر شا باندي څادر واچول سو، په دې سره هیله سـخته وبیریدل او ولاړه سـوه شـاوخوا یي وکتل خو اطاق کي څوک نـه وه دروازه هم تړلې وه.... بیـا هیلۍ پـه تـالار کي ګډونوالو ته وویل: ما فکر کوئ چي خوب مي لیدئ او شـاید د بیدیدو مخکي مـا خپله دا څادر پر ځان اچولئ وي خو زما فکر غلط وو هغه په دا ورځ زما اطاق ته راغلی وو د حیاء په سبب یي پر ما څادر واچوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر ځو ما په بد حالت کي ونه ويني...، هيله بيا تر مازديګره په ليکنه مصروفه سوه کله چي د مازديګر لمونځ وسو قلندر خان د جماعته څخه راغلی نو هيله يي څنګته ورغله او په باندار يي شروع وکړه قلندر خان وويل: لورې زموږ په ميلمستيا کي خو به څه کمی نه وي؟

هيله موسکۍ سوه بيا يي وويل: يا کاکا تر کور دلته زيات خورم او ځيښم هيڅ مشکل نلرم اوس خو دا فکر کوم چي هيڅ ددې ځايه ولاړه نسم.

قلندر خان وخندل بيا يي وويل: نوشجان دي سه لورې ستا خپل کور دی چي هر څه ته دې اړتيا کيږي زما ميرمني يا هم مږندو ته مي وايه او که د بازار خواته دې څه ته ضرورت وي ماته وايه که دې څه ته ضرورت وو او که ماته دې ونه ويل نو په هغه ورځ به سخت درڅخه خفه سم.

هيلې وويل: يا کاکا څه ته ضرورت نلرم هر څه خو همدلته سته زما بيله ويلو تاسو خاله جاني او عايشې خور او د کورنۍ نورو غړو راکړيدي زه به مو دا احسان هيڅکله هير نکړم.

قلندر خان وويل: ته زموږ مينې ته احسان وايي بيا داسي خبره ونکړې موږ پر تا هيڅ احسان نه دی کړی ته لکه زموږ لور داسي يي او د لور سره مينه احسان ندی.

هيلې وويل: مننه کاکا الله دی ستاسو غم نه راکوي.

کله چي ماښام سو تر ډوډۍ خوړلو وروسته هيله خپل اطاق ته ولاړه تر ځو شپېو وروسته عايشه هم اطاق ته ورغله تر څه باندار وروسته عايشه بيده سول هيله تر ځو شپېو پورې په ليکنه مصروفه وه بيا بېده سول د سهار وخت وو اذان ته يو ساعت وخت پاته وو چي د هيلې تر غوږو د شپېلۍ ږغ سو هيله سره وښوريدل بيا يي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوبه ډکې سترګې خلاصې کړې شاوخوا يي وکتل بيا يي سترګې پټې کړې خو د شپېلۍ ږغ يي بيا تر غوږ سو په دې سره يي سترګې خلاصې کړې حيران حيران يي وکتل بيا ولاړه سوه اول يي اطاق کي شـــــاوخوا وکتل بيا يي د کلکين خواته وکتل ږغ د کلکين د خوا څخه راتلی نو ځکه هيله د کلکين خواته ورغله چي ووينې چي په دا سهار وختي څوک شپېلۍ ږغوي کله چي د کلکين خواته ورغله په کلاء کي يي وکتل څوک نه معلوميدی بيا يي د کلاء څخه دباندي وکتل هلته هم څوک نه وو خو کله چي بيرته د کټ خواته راتله نو د شمشير غار پر غره يي يو څوک وليدئ چي پر يو ډبره ناست دی شـــپېلۍ يي په لاس کي ده او ږغوي يي شــــاوخوا ته يي پســـونه او ميړې ګرځي هيله ډيره حيرانه ســـوه بيا يي د ځان ســـره وويل: دا ليونی وګوره چي په دا سهار وختي شپېلۍ ږغوي.

وروسته هيله خپل کټ ته ولاړه او بيده سوه کله چي سهار سو او هيله د خوبه راکښينستل نو د هغه شپېلۍ ولا د ليدو لپاره کلکين ته ولاړه خو کله چي يي د غره خواته وکتل نو هلته هيڅوک نه وه، سبا شپه پر هغه وخت بيا د شپېلۍ ږغ سو هيله بيده وه بيا يي په حيرانتيا سترګې خلاصې کړې او شپېلۍ ته يي غوږ ونيوئ بيا ولاړه سوه او د کلکين خواته ولاړه چي ګورې د تيري شــــپې پر ځای بيا هغه نفر ناست دی او شـپېلۍ ږغوي هيلې څو شـپې د هغه شـپېلۍ ته غوږ ونيوئ ډير خوند يي تري واخيســـتئ او نرم نرم موســـکا به يي هم کوله تر څو شـپو وروسته قلندر خان راکښينستئ د اودس د کولو لپاره دباندي ووتئ کله چي يي اوبه د څاه څخه راکښلي نو يو دم يي هيلې ته پام ســو چي د شــمشــير غره خواته ګورې او موســکی ده. قلندر خان ډير حيران سو خو وروسته په اوبو راکښلو مصروفه سو بيا کله چي د جماعت د لمونځ څخه کور ته راغلی نو اول يي د هيلې د کلکين طرف ته وکتل خو هيله نه وه کله چي د ميرمني تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګ کښېنستئ نو هغې ورته وويل: داسې خفه راته معلومېږې خيريت خو به وي؟

قلندر خان په حيرانتيا او فکر کې وويل: سهار چې اوداسه ته راکښېنستم غوښتل مې چې د ځاه څخه اوبه راوکاږم چې د هيلې لور پر اطاق مې سترګې ولګيدې چې د شمشير غره طرف ته ګورې خاندې نه پوهيږم چې څه پيښه وه.

ميرمنې يې وويل: شايد په فکر کې يې بل څه وه پر هغه يې خندل کتل يې صرف د غره خواته.

قلندر خان وويل: نه پوهيږم نو په دومره وختې کې څوک فکرونه کوي؟

ميرمنې يې وويل: شايد د کورنۍ سره يې خبرې کړې وي دوی خو وايي چې د هيلې د اوسيدو د ځای او زموږ د وختو ډير فرق دی شايد کورنۍ يې پر همدې وخت زنګ ور ته راوهلی وي.

قلندر خان وويل: شايد.

تر ناشتې خوړلو وروسته هيله د کلاء څخه ووتل د شمشير غره طرف ته ولاړه کله چې هلته ورسيده د غره لاندې يو ځوان شپون ته يې تر روغبړ وروسته وويل: دا سهار وختې دا شپېلۍ ته ږغوې؟

شپون وويل: يا خور.

هيلې وويل: ولې پر هغه ډبره چې ناست يې او دا پسونه هم درته ګرځي شاوخوا کې ته يې زه خبره يم.

شپون چې کله د هيلې ور ښول سوي ځای ته وکتل بيا يې وويل: ليونۍ سوی خو به نه يم چې هلته د شپې راسم ته نه يې خبره چې دا غر د شپې ټول د پيريانو په کنټرول کې وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیله موســـکۍ ســـوه شـــپون حیران ســـو بیا یي وویل: تاته دا ټوکي معلومیږي؟

هیلې وویل: یا ولي به ټوکي راته معلومیږي همداسي به وي.

کله چي شپه سوه او د شپېلۍ ږغیدو ته څه وخت پاته و هیلې سترګې خلاصې کړې همداسي پرته وه چي تر څو شېبو وروسته د شپېلۍ ږغ پیل ســـو کله چي هیله د کلکین خواته ورغله نو وېلیدل چي بیا هغه نفر ناست دی او شپېلۍ ږغوي.

هیله د اطاق څخه په پټه ووتل او هغه ځای ته د ورتلو په نیت روانه سول د کلاء دروازه یي کرار خلاصه کړل چي څوک خبر نسي بیا تر دروازه ووتل هیله کرار کرار د غره پر طرف روانه وه چي تر څو شېبو وروسته یي یو دم پر اوږه د یو چا لاس ونیول سو دومره ټینګ چي هیله یي د تلو څخه منعه کړل د هیلې بدن په ریږدیدو سو شاته یي نسوای کتلای خو بیا چي کله هغه لاس ولا ځانته وګرځول نو هیلې ولیدل چي قلندر خان دی.

قلندر خان په درد سره ورته وویل: چیري روانه یي؟

هیله ورڅخه وبیریدل چي راباندي غوســـه نســـي نو ځکه یي ځان داســـي کړ چي د خوبه ده بیا یي د خوب په ږغ وویل: څه دي کاکا خیر دی ولي په دا شپه ګرځې؟

قلندر خان پوه سو چي هیله د خوبه ولاړه سویده بیا یي ورته وویل: راځه لورې کورته دلته څوک د شپي دباندي نه وځي.

هیلې ژبه په غاښـو کي ونیول موسـکۍ سـوه بیا د قلندر خان سـره روانه سول قلندر خان هیله تر لاس نیولي وه خپل اطاق ته یي بوتله کله چي یي پر کټ پرې ایستل بیا ځني ووتئ کله چي سـهار سـو د کورنۍ ټول غړې ناسـت وه چي قلندر خان په غوسـه عایشـې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل: بې عقلې ته ددې ســــره د څه لپاره بیدیږې که ما نه وای راګرځولې خدای نکړه لویه پېښه به سوې وای.

هیلې وویل: ددې هیڅ غلطې نه ده کاکا زه کله کله د شــپې په خوب کې ولاړیږم همدا مریضې د ډېره وخت لرم.

قلندر خان مخ ځني واړوئ څه یي ونه ویل بیا هیلې ورته وویل: کاکا تاسو خفه سولاست؟

قلندر خان تر څو شېبو وروسته وویل: لورې ستا د ساتنې مسؤلیت پر ما د خپل لور او کورنۍ د غړو هم زیات دی خدای نکړه که په تا څه وســـي نو زموږ کندهاریانو نوم به بد ســــي چې کندهاریان د میلمنو په ساتنه کې کمزوري دي خلک به ډیر بد راباندې ووایي.

هیلې وویل: یا کاکا الله دې داسې نکوي ســتاسو په میلمســتیا کې د هیڅ شي کمۍ نسته.

قلندر خان وروســـــته تر دې د کلاء دروازه قلفول تر څو هیله بیا د خوبه ولاړه نســې تر قلف وروســته به قلندر خان هم په ژور خوب بیده کیدئ یوه ورځ هیلې عایشــې ته وویل: عایشــې زه تا د یو رازه خبروم خو قسم وکړه چې بل څوک به نه خبروې.

عایشــې ور سـره قسـم وکړ بیا هیلې وویل: دا څو ورځې کیږي چې هلته پر شـمشـیر غره یو څوک ناسـت وي او شـپېلۍ ږغوي په هغه ورځ چې زه وتلې وم زه د خوبه نه وم په هوښ کې وم ما غوښتل د هغه شپېلۍ ږغونکي شپون سره ووینم.

عایشــه حیرانه ســول بیا یي وویل: ســبحان الله ته څومره لیونۍ یي داسي خطرناک کار څوک کوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هيلې وويل: هيڅ خطرناکه نه دی ما غوښتل د هغه نفر څخه معلومات راټول کړم ځکه زه د شمشير غار د معلوماتو راټولولو لپاره راغلې يم.

عايشې وويل: ټول کلی پاته سو ته په نيمه شپه د هغه نابلده او نا اشنا کس ليدو ته تلې د کليوالو ولي معلومات نه غواړې؟

هيلې وويل: هغه نفر د نورو څخه جلا دی ځکه کليوال د نورو د خولو او اوازو څخه خبر دي شايد هغه نفر ډير معلومات ولرې ځکه کليوال حقيقت ته د ورځې ګوري خو هغه نفر د شپې ورته ګوري د شپې حقيقت بايد وڅيړل سې چې رښتيا څه دي.

عايشې وويل: نو دا هر څه ته ماته ولي وايې؟

هيلې وويل: ته خو خبره يې چې کاکا د کلاء دروازه د شپې قلفوي او زه غواړم هغه نفر ته ځان ورسوم او معلومات ځني واخلم کاکا ته که ووايم هغه به راباندي غوسه سي او اجازه به هم رانکړي زه غواړم چې ته د کاکا څخه د کلاء کيلی راواخلې.

عايشې وويل: ته پوهيږې چې دا ته څه وايې که راخبر سي نو بيا دي مي خدای ساتنه کوي زه هيڅکله داسي نکوم.

هيلې وويل: هيله کوم عايشې خور زما لپاره دا کار وکړه.

عايشې وويل: هيلې ستا لپاره يې کوم خو زه د خسر جانه سخته بيريږم که هغه خبر سي نو سخته به شرمينده سم.

هيلې وويل: نه خبريږي صرف نيم نيم ساعت ځم د اذان تر مخه راځم.

عايشې وويل: دومره ناوخته د کوره وتل ښه نه وي هيلې خور خدای نکړه هغه نفر خطرناک نه وي زيان به يې در رسولی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیلې وویل: د عبدالله ورور کور ور نږدي دی که څه خطر وو هغه ته نارې ور وهم زه خو فکر کوم شاید د هغه دوست وي.

عایشـــې وویل: ســـمده درته را اخلم یي خو پر خپل وعده ودرېږه د اذان تر مخه بیا راځه.

هیلې وعده ور سـره وکړه کله چي ماښـام سـو عایشـې د قلندر خان ښځه کیلۍ پټې کړې او هیلې ته یي راوړې کله چي د شپېلۍ ږغ سو نو هیله ولاړه ســـوه تر کلکین یي دباندي وکتل ګورې هغه شـــپېلۍ ږغونکی ناست دی شپېلۍ ږغوي هیلې ژر ژر ځان سره تیار کړ بیا پټه د کلاء څخه ووتل او د غره پر طرف ور روانه ســـول کله چي تر څه تګ وروسته غره ته ورسیدل بیا د شمشیر غار ته نږدي پر لویه ډبره ناســـت د هغه نفر خواته ور روانه ســـول د هغه نفر په شـاوخوا کي پسـونه ګرځیدل خو کله چي هیله ور ورسـیدل نو ټولو پســو خوراک پریښــوئ هیلې ته یي کتل د هغه نفر هیلې ته شـــا وه هیله چي کله ور ورسیدل نو هغه ته یي سلام ووایه، هغه د سلام په اوریدو شپېلۍ ږغول ودرول بیا یي د هیلې خواته مخ واړوئ د هغي په لیدو د ځایه ولاړ سو په موسکا یي وویل: وعلیکم السلام.

کله چي هیلې هغه ولیدئ حیرانه سـول ځکه هغه یو شـل کلن ځوان وو او دې فکر کړئ وو چي دا به پوخ عمره سړی وي هیلې وویل: د څو ورځو راهیسـي ستا دا شـپېلۍ اورم چي ږغوې یي چي رښـتیا سي دا څو ورځې کیږي چي ستا پر دې شپېلۍ د خوبه راکښینم.

هغه نفر وویل: ښه ډیر وبخښه زه نه پوهیدم چي زما شپېلۍ به تاسو ته هلته در رسیږي او تاسو به د خوبه په راکښینۍ.

هیلې وویل: نه کومه خبره نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا هیلې وویل: زما نوم هیله ده د خاریج ځخه راغلې یم غواړم پر دې شـــمشـــیر غار معلومات ولیکم ځکه پوهنتون کې یې پایلیک پر راکړیدئ.

هغه نفر وویل: خبر یم.

هیلې وویل: څه؟

هغه نفر په وارخطایی وویل: مطلب مې د دا کلې خلکو ســـره ویل چې داسې انجلۍ راغلې ده غواړې پر دې شمشیر غار لیکنه وکړې.

هیلې وویل: هو همداسې ده او تاسو به هم په دې برخه کې کمک را سره کوئ.

هغه نفر وویل: سمده ولې نه.

هیلې په موسکا وویل: تاسو یو څه وارخطا راته معلومیږی.

هغه نفر هم موسـکی سو بیا یې وویل: وارخطاء به څنګه نسم ځکه ټول خلک د شـــپې دلته نه راځي بیریږي خو ته راغلې نو وارخطا خو باید سم چې داسې نه پیری یې.

هیله موسـکۍ سـوه بیا یې وویل: هو همداســې یې وګنه چې پیرۍ یم خو ته بیغمه اوسه په تا کار نلرم.

هغه نفر هم موسکی سو بیا یې وویل: ځه مننه چې په ما کار نلرې.

هیلې وویل: ســتا نوم څه دی او ولې دومره ناوخته د شـــپې راوځئ بیریږئ نه؟

هغه نفر وویل: زما نوم عثیم دی د ورځې لمر توند ســـې د پســـونو ګرځول پکښې سخت وي نو ځکه یې د شپې په اخیره کې راباسم.

عثیم چې کله د پسـو خبره وکړه نو بیا یې خپلو پسـو ته پام سـو چې هغو هیلې تـه حیران حیران کتل خو چې کلـه عثیم هغو تـه وکتـل او

(c) ketabton.com: The Digital Library

تندی یي ورته ګونجې کړ نو ټولو بیا په خپل خوراک پیل وکړ او د هیلې څخه یي خپل نظر واړوئ، بیا هیلې وویل: ماشاءالله ښایسته نوم دی نو عثیم صـاحبه ماته به معلومات راکړې او ته پوهیږې دا کیلې ویني دا مي را غلا کړیده او دلته راغلي یم اوس که ته معلومات رانکړې نو دا هر څه به بې فایدې سي.

عثیم موسکی سو بیا یي وویل: سمده زه همکارې در سره کوم.

وروسته هیلې د عثیم څخه خدای په امانی واخیستی او ولاړه کلاء ته پټه ننوتل دروازه یي کلف کړل بیا یي کیلی د قلندر خان سرته وزړولې او دا خپل اطاق ته ولاړه، کله چي اطاق ته ولاړه نو عایشه هم ویښه سوې وه ددې په لیدو ډیره خوشحاله سول چي پر وخت راغله بیا یي ورته وویل: څنګه سو د هغه نفر سره دي ولیدل؟

هیلې وویل: هو ومي لیدل او وعده یي هم وکړه چي معلومات به راکوي.

عایشې وویل: کیلی دي څه کړه؟

هیلې وویل: د کاکا سرته مي پر هغه لرګي وزړول.

عایشې وویل: ډیر ښه.

بیا عایشې وویل: د سهار وخت داخل دی ته دې لمونځ وکه بیا بیده سه بدخابه به یي.

هیلې وویل: سمده.

وروسته تر لمانځه هیله بیده سوه او تر یونیم ساعت وروسته بیرته د لمر د تیزو وړانګو په سبب راکښینستل او د اطاق څخه دباندي ووتل کله چي د اطاق څخه ووتل نو د قلندر خان زوی او میرمني یي خبرې سره کولې چي میرمني یي وویل: یا یا ما به نن بیایي بازار ته که نه زه خبرې نه در سره کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاوند يي وويل: خو بابا مو نه پرېږدي زه څه وکم؟

ميرمني يي وويل: چي هر څه وي خو ما به نن بيايي بازار ته.

خاوند يي وويل: افففف خدايه څه وکم؟

بيا يي وويل: سمده ته هم راځه زه يوازي نسم ورته ويلای ته مخ داسي ونيسه لکه مريضه چي يي زه به ورته ووايم چي ډاکټر ته يي بيايم.

ميرمني يي وويل: سمده خو داسي نه ماته خندا راسي.

هيله د دوی دوو په خبرو ډيره خنديدل

خاوند يي وويل: که داسي دې وکړه هم به يي وهلی يم او هم به اجازه رانکړې.

ميرمني يي وويل: سمده نه خاندم.

بيا دواړه قلندر خان ته ورغلل زوی يي وويل: بابا بلقيس دا څو ورځې کيږي سخته مريضه ده که ستا اجازه وي زه به يي ډاکټر ته بوځم.

قلندر خان بلقيس ته وکتل بيا يي زوی ته وويل: نو تا مخکي ولي نه ويل؟

زوی يي وويل: هغه بابا ما زړه نسوای کولای چي تاته ووايم.

قلندر خان هغو ته تر څو شيبو کتلو وروسته وويل: سمده ورسئ.

هغوی ډير خوشحاله سول بيا قلندر خان ورته وويل: پيسې در سره سته که يي درکم؟

زوی يي وويل: يا راسره سته بابا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قلندر خان جیب ته لاس کړ څو پیسې یې را وکښې ور یې کړې ورته ویویل: ها دا هم واخله شاید ورته ضرورت دي سي.

هغوی چي پیسې واخیستې نو د تیاري نیولو لپاره بیا ولاړل خپل اطاق ته د هغو تر تلو وروسته فوراً هیله د قلندر خان خواته ورغلل قلندر خان د زوی او مړور د تګ وروسته هغو ته په لیدو وخندل هیله هم موسکۍ سوه بیا یې وویل: کاکا جانه ولي مو وخندل؟

قلندر خان وویل: مور او پلار که هر څومره ناپوه یې خو د اولاد په هر حرکت پوهیږي ما به هم چي کله ځوان وم پلار ته بهانې کولي چي کله مي میرمن بازار ته د سودا او یا تفریح لپاره بیول نن یې دا دی زما زوی ماته کوي دی فکر کوي چي پلار مي نه پوهیږي.

هیلې تر موسکا وروسته وویل: کاکا تاسو هغوی ولي مجبوره کوئ چي درواغ درته ووایي ولي ښځو باندي دومره بندیزونه لګوئ ایا ښځه انسانه نه ده؟ که څنګه؟ ولي هغه د نارینه پځیر په پښتنې ټولنه کي آزاده نسې ګرځیدلای؟

قلندر خان تر ساه اخیستو وروسته وویل: لورې! د لندن ملیکه څه نومیږي زما څخه یې نوم هیر دی؟

هیلې وویل: ملېکه الېزابیته نومیږي.

قلندر خان وویل: آیا هغه کله یوازي او آزاده دباندي راوتلې ده؟ یا د نورو ریس جمهورانو یا باچاهانو لونې او میرمني دباندي یوازې راوتلي دي بیله ساتونکو؟

هیلې وویل: نه کاکا.

قلندر خان وویل: ولي هغه آزادې او یوازي نه راوځي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیلې وویل: ځکه چې هغه په ټولنه کې یو خاص شـخصـیتونه دي د هغو مقام تر عامو خلکو لوړ دی چې هغوی ته څوک تاوان ور ونه رسوي نو ځکه ساتونکي ور سره وي.

قلندر خان وویل: موږ هر یوه پښـــتانه تـه لونې،خویندې، میرمنې همداسـي حیثیت لري لکه یو ملېکه او شهزادګۍ نو ځکه د ساتونکو پځیر د هغو ساتنه کوو موږ پښتانه یو متل هم لرو چې مال تر سر قربان او سـر تر ناموس موږ ته تر خپل سـر هم د خپلې لور، خور او میرمني عزت ارزښـــت لري دا چې خلک تبلیغات راپســـي کوي چې پښتانه د ښځو قدر نلري هغوی اصل کې دا غواړي چې زموږ ښځې دي هم داسـي بې ارزښـته سـي لکه دوی چې خپلې ښځې بې ارزښـته کړېدي امریکا او نورو خاریجې هیوادو کې آزادي ورکول سـوېده خو ته به تر ما ښـه خبره یي چې هلته هره ورځ پر څومره زیاتو انجونو زور زیاتۍ کیږي څومره بده رویه ور سـره کیږي آیا دا د ښځو حقوق دي؟

بیا قلندر خان وویل: دوی وای مسلمانان په خاصه توګه پښتانه ښځو ته د کار کولو اجازه نه ورکوي دا د ښـځو سـره ظلم دی آیا دا ظلم دی چې موږ مســـلمانان او پښـــتانه نارینه پر ځان یخ، ګرمي، غم، درد، ستونزې مشکلات تیروو کار کوو پیسي ګټو دوی ته ډوډۍ او د ژوند اسانتیاوي برابروو آیا دا ظلم دی چې موږ یي پر دوی کوو؟ که یي د ځان سره یخ،لمر، غم، ستونزو او مشکلاتو او سختو کارو ته د دوی پځیر د ځان سره ودروو بیا خو نو دا د ښځو حق سو دوی مهربانه دي چې دا حق یي ورکړېدی خو موږ چې هوســـا، آرامي د هره درده او سـتونزې لیري مو پر کور کښـینولي دي هره غوښـتنه مو ور پوره کړیده ظالمان بلل کیږو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قلندر خان تر خبرو وروســـته هيلې وويل: ربښـــتيا هم کاکا ډېرې ښــايســته او د قناعت وړ خبرې مو وکړې همداســـي ده مور. د ليري ځايه فيصله کول چي کندهاريان يا پښتانه داسي دي و هاسي دي خو زمور. تصور او حقيقت ډېر فرق سره لري.

هيله تر څه خبرو وروسته د قلندر خان ميرمني ته ورغله چي پر بام يي خوارڼه ولني پاکول د قلندر خان ميرمني هيلې ته وويل: څنګه دی لوري يو څه سات دی تير دی دلته خدای نکړه دېغت ونکړې؟

هيلې وويل: يا خاله ډېر سات مي تير دی.

د قلندر خان ميرمني وويل: څنګه سو لورې هغه خط دي وليکی؟

هيلې وويل: کوم خط خاله؟

د قلندر خان ميرمني وويل: ولي هغه تا چي ويل زه پسي راغلې يم.

هيلې وويل: ښه ښه هغه ښيي بس په اخته يم وبه يي ليکم هغه شپانه به معلومات راکړې؟

هيلې ددې خبرې په اوريدو ټکان وخوړی چي دا خبره مي څنګه تر خوله ووتل.

د قلندر خان ميرمني په حيرانتيا وويل: کوم شپانه؟

هيلې فکر وکړ بيا يي وويل: هغه کله چي غرمه زه د کليوالو ســـره ليدو ته ولاړه ســـم هلته پر هغه غره باندي يو هلک دی پســـونه ور سره يي هغه ويل زه معلومات درکوم.

د قلندر خاني ميرمني د غره خواته وکتل بيا يي د غره خواته اشــاره ورته وکړه ويويل: دا غر يادوې؟

هيلې وويل: هو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قلندر خان میرمني وویل: هلته خو ما تر اوســه کوم شــپانه نه دی لیدلی او نه هم کوم شــپانه هلته ځي ځکه وچ غر دی واښــه نســته وربانديي.

هیله حیرانه ســول چي دا څه وایي خو وروســته یي فکر وکړ چي عثیم خو د ســهار مخکي هلته پسونه پیایي او دوی په دي وخت کي بیده وي نو ځکه یي نهویني.

کله چي شپه نیمایي ته ورسیدل او ټول په خواړه خوب بیده سول نو هیلې و عایشې ته وویل: هله عایشې ورسه نو کیلې راوړه.

عایشــــې د قلندر خان د ســـر څخه هغه کیلې راوړل او هیلې ته یي ورکړه بیا یي ورتـه د ژر راتګ وویل هیلې هم وعده وکړه چي ژر به راځي. هیلې دروازه خلاصــه کړل او د غره پر طرف ولاړه کله چي غره ته ورسیدل نو عثیم ورته په انتظار ناست وو تر سلام او روغبړ وروسته عثیم وویل: اماده یي د معلومات لپاره؟

هیلې وویل: هو.

عثیم وویل: درځه دننه ورځو.

هیلې په حیرانتیا وویل: دننه؟

عثیم وویل: هو درځه چي زه در سره یم د مړه ماره مه بیریږه.

هیله موسکی سوه بیا یي وویل: د مړه ماره نو څوک بیریږي؟

عثیم په موســـکا وویل: دا زموږ کندهاریانو یو ټوکه ده چي د متل پڅیر یي استعمالوو.

هیلې وویل: تاسو کندهاریان خو هم.

بیا دواړه د شمشیر غار پر طرف روان سول پر لاري عثیم وویل: هیلې کله چي ته د هوایي میدان څخه تر عینو میني پوري بیا د عینو

(c) ketabton.com: The Digital Library

میني ښخه تر دې ځایه پوري او دلته په څو ورځو اوسیدو کي آیا تا د یو چا ســـره بې ادبي زیات معاف یو هلک ولیدی یا دي یو څوک پر بچه بازۍ ولیدی؟

هیلې وویل: یا ولې؟

عثیم د هیلې خواتـه مخ واړوی بیـا یي په زهیره وویل: نو بیا تا ولـي موږ کندهاریانو ته د بچه بازه نوم استعمال کړ؟

هیله حیرانه ســول چي په دي عثیم ځنګه خبر ســو چي دې او مور کندهاریان په بچه بازه یاد کړې وه بیا یي وویل: ته ځنګه خبر سوې په دي؟

عثیم هم حیران ســو خو بیا یي وویل: تا نه یادوم البته دا ځني خلک موږ کندهاریان د بچه بازه په نوم یادوي ته پوهیږې هیلې ته دلته نه یي زیږیـدلې اول چي دلتــه رالې لهجــه دي یو ډول وه خو تر څو ورځو اوسیدو وروسته دي لهجه زموږ کندهاریانو پڅیر سول تا چي یو نابلده څوک ویني هغه به حتمي وایي چي ته همدلته زیږیدلې یي کندهارۍ یي ولـي چي ســـتا لهجه کندهارۍ ده کندهار ته هم داســـي مهاجر راغلي دي چي زیږیدلې به بل ځای یي خو اوســـیږي به په کنـدهـار کي یـا بـه د بل ځای یي کندهارۍ لهجه به یي زده کړې وي هغوی چي اوس هره بده پیښــه کړي نوم د کندهار پري بد سو ځکه لهجه یي کندهارۍ ده بل دا چي ښه او بد هر ځای سته زه دا نه وایم چي ټول کندهاریان نو ملایکې دي یا ټول بد دي خو زموږ زړه درد وکړي چي کوم کار چي موږ کړی ندی او نوم مو هســـي بدنام دی هغه هم یوازي بد کس نه یادیږي بلکي ټول کندهار یادیږي.....

هیلې وویل: صـــحي دی بابا اول ما هم دا فکر کوی چي کندهاریان څومره وحشیان دي خو چي د نږدي مي ولیدل پوه سوم چي هغه هر څه صرف اوازې وې چي د کندهاریانو په هکله ویل کیدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عثیم وویل: خیر پریږده یي راځه دننه زه به یواري په دا لرګي اور بل کړم تر څو رڼا جوړه سي.

عثیم په لرګي اور بل کړ بیا دواړه دننه شمشیر غار ته ورغله عثیم د شـــمشـــیر غار دننـه به اور یوې خوا و بلي خواته کوی او هغه ځایونـه بـه یي هیلې تـه تشـــریح کول عثیم و هیلې ته ډیر معلومات ورکړل نور هم مختـه تلئ خو هیلې وویل: د نن لپاره همدومره بس دی ځکه سـهار کیدو ته لږ وخت پاته دی هلته به عایشــه خور راته منتظره وي کاکا هم نن سبا وختي راکښیني.

عثیم وویل: سمده چي ستا خوښـه یي درځه ته تر مخه سه داسي نه پیرئ دي راڅخه یوسي.

هیلې په موســـکا وویل: زه د پیري څخه نه بیریږم هغه هغه څوک بیریږي چي په کوچنیوالي یي انا د پیریانو کیسې ورته کړي وي.

عثیم لاندي کښـته سـو بیا یي هیلې ته لاس ونیوی بیا یي وویل: زما لاس ونیسه داسي نه وغورځیږې.

هیلې خپل لاس د عثیم پـه لاس کي ورکړ کله چي عثیم د هیلې لاس لمس کړ نو د سکون او آرام احساس یي وکړ بیا عثیم نرمه موسکا وکړه تر راکښــته کیدو وروســته یي هیلې ته وویل: درځه زه به تر دروازې در سره ولاړ سم.

هیلې وویل: یا داسي نه یو څوک دي وویني بیا به غلط فکر وکړې.

عثیم وویل: سمده نو ښه ورځ درته غواړم الله دي مل سه.

هیلـه پـه ځغاســـتـه کلا تـه راغله دروازه یي قلف کړل خو کیلې یي هیره ســـوه چي د قلفه یي وکاږي کلـه چي خپل اطاق ته ولاړه نو عایشې ورته وویل: دروازه دي قلف کړه؟

هیلې وویل: هو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عایشې وویل: نو کیلې دې څه کړه؟

هیلې وویل: اف زما خدایه کیلې خو مي قلف کې هیره سوه.

عایشـــه ډیره وارخطا ســـوه بیا يي وویل: دا تا څه وکړه د بابا د راکښینستو وخت هم دی اوس به څه کوو؟

هیلې وویل: ته وده زه کاکا ته وګورم چي راکښینستلی دی که نه.

هیلې چي کله وکتل نو قلندر خان بیده وو ژر يي عایشـــې ته وویل: عایشې کاکا بیده دی ته ورسه کیلې د دروازې څخه وېسه د کاکا سر ته.

عایشـــه ورغله تر څو د قلف څخه کیلې راوړي خو کله چي د قلندر خان خواته نږدي ســوه نو هغه د خوبه راکښـینســتی ســترګې يي پر عایشې ولګیدلې ورته ویویل: څه کوې دلته؟

عایشـــې په بنده بنده لهجه وویل: اغغغغه بابا ما ویل اودس او لمونځ به وکړم.

قلندر خان وویل: دومره وختي؟ ورســه بیده سه اوس وختي دی چي مور د لمانځه څخه راغلو وبه يي کړې.

عایشې وویل: سمده بابا.

کله چي عایشـــه روانیدل نو د قلندر خان ســـرته يي د کیلۍ ځای ته وکتل چي په همدې دمه پر میخ وځړیدل د عایشې سترګې د حیرانتیا څخه راوختلې بدن يي په ریږدیدو سو، قلندر خان د عایشــې په لیدو خپل سر ته وکتل بیا يي عایشې ته وویل: څه شي ته ګورې؟

عایشې بیا په بنده لهجه وویل: هیییېخ نه بابا زه به بیده سم.

قلندر خان وویل: ورسه لورې!

(c) ketabton.com: The Digital Library

عایشه په ریږدیدلي بدن دننه ولاړه قلندر خان د ځان سره وویل: لکه چي د خوبه وه لیونی.

کله چي عایشــه دننه ولاړه نو هیلې ورڅخه په تلوار پوښــتنه وکړل: کېلی دې د بابا سر ته وځړول؟

عایشه چي حیرانه او په فکرو کي غرقه وه وویل: هو ومي ځړول.

هیلې په موسکا وویل: ډیر ښه شکر خدایه.

بیا هیلې وویل: ښه نو عایشې زه به بیده سم.

عایشه چي لا هم په فکر کي وه وویل: سمده بیده سه.

هیلې او عثیم بـه هره ورځ ســـره لیدل عثیم بـه هیلې تـه معلومـات ورکول د عثیم او هیلې تر منځ ملګرتیا ډیره ټینګه سـوې وه عایشــې بـه هم هره ورځ چي کلـه هیلې تـه کیلي راوړل نو پـه خپګـان بـه يي هیلې تـه پلاس کي ورکړه یوه ورځ کلـه چي هیلـه د عثیم لیـدو تـه ورغله نو ګوري چي د عثیم پر ځای هیڅوک نســته هیلې فکر وکړ چي شـــاید عثیم ور ســـره ټوکې کوي ځان يي پټ کړیدی نو ځکه شـاوخوا ورپسـي ګرځیدل او د عثیم عثیم نارې به يي ور وهلې خو تـاریکـه زیـاتـه وه څوک معلومیدل هم نـه او د عثیم درک هم نـه وه هیله د شـمشـیر غار خواته ورغله خو هلته هم څوک نه وه وروسـته يي فکر وکړ چي شـاید عثیم ته کار ور پیدا سـوی وي یو ځای ته به تللی وي نو ځکه بیرته کور ته د تلو په نیت روانه سول خو چي مخ يي د کور طرف ته واړوی نو بدن يي په ریږدیدو ســو لاســـونو او پښـو يي حرکت پریښـوی ځکه یو نا اشـنا او عجیب خلک يي ولیدل چي دې ته ګوري.

عثیم په سـتړیا او سـاه اخیسـتلو خپل ځای ته ځان را ورسـوی او د هیلې د راتلو په انتظار سو خو تر څو شیبو وروسته يي په تعجب د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شــمشــیر غار خواته وکتل وپلیدل چي هیله را روانه ده عثیم د هغې په لیدو ولاړ ســو او موســکی ســو خو کله چي هیله عثیم ته نږدې سول نو عثیم ته هیله څه بل ډول معلومه سوه عثیم ورنږدې سو بیا یې وویل: هیلې ته ښه یې؟

هیلې په کراره وویل: هووو.

په دې ســره د هیلې ســترګې پټې ســوې لاندې لویدل چي عثیم ژر ونیول او نارې یې کړې: هیلې! هیلې.!

خو هیلې ږغ نکوی عثیم یې مخ سره وښوروی خو هیله په حال کي نه وه بیا عثیم ناره کړه: مازره، کمطمه، قسوره، طیکله؟

تر څو شېبو وروسته څلور ځوانان راغلل ویویل: ها وروره.

عثیم په درد وویل: د بې عقل زامنو ما تاســو ته نه وه ویلي چي تر څو زه راځم پر هیلې پام کوی؟

هغو څلورو ځوانانو کي یوه وویل: وبخښه وروره مشر خان غوښتې وو موږ هلته اختـه سوو چي دا راغلې وه.

عثیم وویل: دا کوم د احمق زامن وه چي زما د منعي ســــربیره هم ددې مختـه راغلې وه.

یوه وویل: هغه وروره د مشــــر خان میلمانه وه هغوی په دې نه وه خبر.

عثیم وویل: بې عقلانو د هغو سره دا یو کار مي در سپارلی وو هغه مو هم سم ونکړ.

هغو څلورو ځوانانو وویل: وبخښــه وروره په دې څه نه دي ســوي صرف د بیرې بې هوښه سوېده.

عثیم وویل: دا که یي زړه دریدلی وای نو بیا؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغو څه نه وویل چپه خوله ســول او ســرونه یي لاندې وځړول بیا عثیم هیلـه پـه غیږ کي پورتـه کړل د قلندر خان د کور پر طرف یي روانه کړل کله چي عثیم هیله د کور پر طرف روانه کړې وه نو پر لارې یي د هیلې مخ ته وکتل تر سترګو یي اوښکي راغلې پر ټوله لار یي ژړل. کلـه چي کور تـه ورســـیدی نو د هیلې اطـاق تـه یي وخیږول کله چي اطاق ته دننه سول نو عایشه چي هیلې ته په انتظار وه کله چي یي دروازه خلاصـه ولیدل نو بدن یي په ریږدیدو سو او په وارخطایۍ ولاړه ســوه د اطاق پای ته ولاړه بدن یي په ریږدیدو سـو عثیم چي هغه وارخطا ولیدل نو وېویل: مه بیریږه خور زه تاته تاوان نه در رسوم.

عثیم هیله پر کټ پریستل عایشـه چي لا هم د اطاق پای ته ولاړه وه هیلې ته یي په بیره وکتل عثیم وویل: دا ښه ده صرف بېریدلې ده.

بیا عثیم وویل: یو خبره واوره هغه دا چي څه چي تا ولیدل باید هیله او نوره کورنۍ در څخه خبره نســي که نه بیا به دي خیر نه وي زه نه غواړم دا زما څخه څوک جلا کړې.

وروسته د اطاق کلکین خلاص سو نرم باد جاري سو. کله چي لمر راوختی نو د هیلې د اطـاق کلکین تـه نږدې درختې تـه یو چوغکـه راغله د هیلې د اطاق خواته خو د کښـینسـتو سـره سـم د لاندي خوا څخه کوچنیانو په ډبره وویشــتل ډبره د چوغکې پر وزر ولګیدل په دي سره هغه په هوا سول خو تر څو شیبو وروسته بیا په داسي حال کي راغله چي تر وزر یي ویني بهېدلې تر څو شــېبو وروســته چي کله هیله راکښــېنســـتل نو هغه چوغکه د کوچنیانو په لیدو والوتل. عایشــه لا هم پر خپل ځای بي حواســه ولاړه وه چي تر څو شــېبو وروسـته هیلې سـترګې خلاصــې کړې او راکښـینسـتل کله چي یي

(c) ketabton.com: The Digital Library

عایشــه وارخطا ولیدل نو ویویل: څه پیښــه ده ولي داســـي وارخطا ولاړه یي؟

عایشې تر څو شېبو وروسته وویل: هیڅ نه بس همداسي.

هیلې وویل: ښه ښه پوه سوم ما بد خوب ولیدی لکه چي په خوب کي مي لوی لوی چیغې وهلي دي چي ته دومره بېریدلې یي وبخښه نو.

عایشه څه سمه سول بیا یي وویل: یا کومه خبره نه ده.

هیلې وویل: ډېر بد خوب مي لیدی خوب مي لیدی چي زه د عثیم لیدو ته ورغلم خو هغه هلته نه وو بیا چي کله زه د شــمشــیر غار خواته ورغلم نو هلته مي ډېر یو عجب خلک ولیدل غټ غټ مخان یي وه لوی لوی پښې یي وې او پښې یي شا طرف ته اوښتې وې ما چي هغه ولیدل نو سخته وبیریدم ټول حواس مي د لاسه ورکړل خو په یو رکم مي ځان تر عثیمه ورسوی.

عایشې وویل: دا عثیم څوک دی؟

هیلې وویل: دا هم هغه هلک دی هغه ماته چي د شمشیر غار په اړه معلومات راکوي هغه ډېر ښه هلک دی عایشې.

عایشـــې نور څه نه وویل هیلې چي کله دباندي وکتل نو وېلیدل چي لمر راختلی دی بیا یي وویل: اوه زما خدایه دا څومره ناوخته دی عثیم ته هم نه ورغلم هغه به څومره ماته انتظار وو.

کله چي شپه راغله او نیمایي ته ورسیدل نو هیلې بیا د عثیم سره د لیدو امادګې ونیول عایشې هغي ته کیلۍ ورکړه هیله دباندي ووتل او د عثیم پر طرف روانه سول عایشې هغه د کلکین څخه څارل.

هیله چي کله د شمشیر غار غره ته ورسیدل د عثیم د کښینستو ځای ته ورغله او کله چي یي هغه ولیدی نو ســـلام یي ورته ووایه عثیم مخ اړولی وو په فکرو کي وو خو کله چي هیلې ورته ســـلام ووایه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو هغه اول خپل سترګې د اوښکو پاکې کړې بیا یي وعلیکم السلام ورته ووایه بیا یي وویل: ته راغلې؟

هیلې وویل: هو وبخښــــه تیره ورځ بیده ســــوې وم نه راغلم ته به انتظار وې؟

عایشې هیله د کلکین څخه لیدل چي خبرې کوي خو هلته هیڅوک نه معلومیدل بیا پر کټ باندي پریشــانه کښــینســتل نه پوهیدل چي څه وکړي په فکرو کي ســوه. عثیم خوشــحاله ســو چي هیله د تیري ورځې په پیښه نه ده خبره بیا یي وویل: نه هیڅ خبره نه ده زه هم یو څو شپېې انتظار وم بیا ولاړم.

د هیلې د عثیم لاسته پام سو چي یو برخه یي توره سوې وه بیا یي په حیرانتیا وویل: دا په لاس دي څه سویدي؟

عثیم وویل: دا ستا د قلندر خان کاکا لمسیان ډیر شوخان دي ډبرې یي ســره غورځولې هغه یي زه وویشــتم خو ته فکر مکوه زیات نه دی زخمي.

هیلې په ګونجي تندي نیولو ورتـه وویل: ولـي هغه ډبره د موم څخه جوړه وه چي نــه یي یي زخمي کړی زه ځم کور تــه ملهم درتــه راوړم.

عثیم وویل: یا یا تکلیف مکوه.

هیلې وویل: یا ته صبر زه یي راوړم.

کله چي هیله روانیدل نو عثیم تر لاس ونیول ورته ویویل: زه ســـم یم.

د عثیم تر سترګو اوښکې راغلې په ژړا یي وویل: بیا یي سبا راوړه اوس مه راځخه ځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیله حیرانه سول بیا یي په حیرانتیا وویل: عثیمه ته ښه یي څه خبره ده؟

عثیم اوښـــــکې پـاکي کړې دا چي هیلـه پـه ځـان پوه نکړي چي دی وربانديي مین دی نو ځکه یي وویل: نن مي مور ویادیدل.

هیلې وویل: هغه چیري ده؟

عثیم وویل: وفات سویده.

هیلې وویل: اف خدایه الله دي یي وبخښي.

بیا هیلي وویل: لیونیه نو ژاړې ولي خو دعاوي ورته کوه هغه ســـتا په ژړا ډیره درباندي زهیریږي هغه به په قبر کي ډیره نا ارامه یي.

بیا تر څو شـېبو وروسـته هیلې وویل: بس یي کړه نو کوچنی خو نه یي چي ژاړې.

بیا یي خپل پوړنۍ واخیستی او د عثیم اوښـکې یي په ورپاکي کړې بیا یي وویل: څومره ښـــه هلک دی خو چي ژړلای یي نه مه ژاړه بره سباته چاکلیټ درته راوړمه پوپک درته راوړمه.

عثیم په دي سره موسکی سو بیا یي وویل: دا دی کندهارۍ لهجه دي هم زده کړه.

هیلې وویل: هو نو ډیر وخت مي کیږي چي راغلې یم او ســـتا لکه چي دا د بره لغات تـه فکر ســـو چي مـا وویـل ځکـه کندهاریان خو خبرو کي بره یا باره ډیر وایي.

عثیم موسکی سو بیا یي وویل: نو تا یوازي دا باره زده کړه؟

هیلې وویل: هو نو دومره وخـت خو مي هم نـکیږي چي ټولـه لهجـه زده کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوی په خبرو ســـره وخت ناوخته ســـو بیا هیلۍ وویل: عثیمه نن ناوخته سو بیا به سبا د معلوماتو په اړه وږغیږو.

عثیم وویل: صحي دی چي ستا خوښه یي او هو سباته زما پلار جان ستا لپاره میلمستیا جوړه کړیده بیا وختي راسه نو.

هیلۍ وویل: زما لپاره؟

عثیم وویل: هو ستا لپاره ولي ته نه راځې؟

هیلۍ وویل: یا درځم ولي نه درځم خو زما مطلب دا چي ســـتا پلار جان زما په اړه څه خبر دی؟

عثیم وویل: ما ورته ویلي دي ستا په اړه چي داسي مسافره ده داسي دی و هاســـي دی هر څه مي ورته ویلي دي بیا مي پلار جان وویل چي دا خو زموږ ټولو میلمنـه ده نو قلنـدر خـان ولي کور کي بنـدي کړیده نو تیره ورځ یي راته وویل چي سباته هیله در سره راوله.

هیلۍ وویل: نو زه به څنګه درســـم ځکه ته خبر یي چي زه دلته پټه راځم او دومره وخت وي هم نه چي در سره ولاړه سم ستاسو کور به هم لري وي؟

عثیم وویل: یا نږدي دی همدلي شـاوخوا کي دی ته سـباته لږ وختي راسه ان شاءالله بیرته دي د تیر پخیر وخت ته را رسوم.

هیلۍ وویل: صحي دی سباته وختي راځم.

وروســـته هیلۍ د عثیم څخه خدای په اماني واخیســـتل او د کور پر طرف روانه سول کله چي د غره څخه راکښته سوه نو په دې وخت کي عبدالله چي د کور څخه دباندي راوتلی وو غوښتل یي چي چای جواب وکړي چي یو دم یي ســـترګي پر هیلۍ ولګیدې چي د غره څخه راکښته سول. عبدالله سترګي پلاسو سره ومښلي چي شاید زه د خوبـه یم خو چي وېکتـل نو هیلـه د قلنـدر خـان د کلاء پر طرف

(c) ketabton.com: The Digital Library

روانــه وه عبداللــه يواري غره تــه وکتـل بيـا يي هيلـي ته وکتل تر څو شـــــېبو يي هيلې ته کتل چي بيا هيله په کراره کلاء ته ننوتل عبدالله ډير حيران سو چي هيلې په دا نيمه شپه په غره کي څه کول خو څه يي ونه ويل د سبا په انتظار سو چي سباته به يي سم معلومات وکړم.

کله چي تر خوب وروسته هيله راکښېنستل نو دباندي ووتل د قلندر خان د مړندو ســره په باندار مصـروفه ســول چي د قلندر خان زوی محمود راغلی او هيلې تــه يي د لاس ســــاعت ونيوی ورتــه ويويل: هيلې خور دا ستا لپاره.

هيلې په موسکا وويل: په کومه خوشحالۍ کي؟

محمود وويـل: هغـه ورځ دي پيـاد ده چي مـا و تـاتـه وويـل چي بابا د کـار لپـاره پيســــې نـه راکوي چي تا راته وويل چي اول يو کار کي تجربه تر لاسه کړه....؟

هيلې وويل: هو پياد مي دي.

محمود وويل: زه په هغه ورځ ولاړم د موټرانو د مستري يو ملګري سره مي شاګردي شروع کړه چي په ډير لنډ وخت کي مي کار ځني زده کړ بيا مي يو بل ملګري راته وويل چي راســــه ګاراج کي کار راســره وکړه اوس د هغه ســره کار کوم ۲۵۰۰۰ افغانۍ راکوي نن مي اول معاش واخيستۍ او تاته مي دا دی يو کوچنۍ او ناچيزه تحفه راوړل ځکه دا هر څه ستا د مشورې لکبله ما تر لاسه کړه.

هيلې د محمود څخه ســاعت واخيســتی بيا يې ورته وويل: ډيره مننه خو دې ته اړتيا نه وه.

محمود وويل: يا هيلې خور ته خو زما د معاش نيمايي حق را ســـره لرې خو مـا دا کوچنۍ تحفـه درکړل همدا پـه ډير څـه راڅخـه قبول کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیلۍ وویل: ولې نه وروره خو یو مشـــوره بله درکوم هغه دا چې د معاش پکار کې تـه پرمختـګ نســـې کولای د ژونـد پـه تیریـدو بـه خوشـحاله یې چې تاته هره میاشت ژر معاش حواله سي خو که خپل شــخصــي کار شــروع کړې هم به پرمختګ پکښــې وکړې هم به د ژوند په خوند پوه سې.

محمود وویل: خو خور زه به خپل شـــخصــــي کار څنګه جوړ کړم ځکه زما ســره دومره پیســې هم نســته چې یو ګاراج او ســامان په رانیسم.

هیلۍ وویل: هر چا چې اول کار د ډیرې سرمایې په مصرف شروع کړی وې حتمي یې تـاوان کړیدی ځکـه دوی تـه یې د تـاوان او ګټې اړخونه نه معلومیږي د کار شــروع باید تل د کوچني ځایه څخه وي کرار کرار باید پرمختګ پکښې وسي.

محمود ویـل: خو هیلۍ خور چې د کوچني ځـایـه یې پیلوم نو تر ۲۰۰۰۰۰ افغانیو پوري مصـــرف کیږي بابا ته چې ووایم وایي چې بیکاره ته شی نسې کولای لټ یې ... بس دا خبرې راته کوي.

هیلۍ وویـل: بـابـا تـه مـه وایـه زه مي پلار تـه وایم چې هغـه یې راواستوي بیا ځانته کار په جوړ کړه.

محمود وویل: هیلۍ خور دا څه وایي زه به ستا څخه هیڅکله پیســې وانخلم ته میلمنه یې زموږ او موږ د میلمنو څخه هیڅ نغواړو.

هیلۍ وویل: شـــــابوښ یو وار خور وایي بیا راته میلمنه وایي پردۍ کوې مي.

محمود موســکی ســو بیا یې وویل: میلمنه مي په دې درته وویل چې تا ویلي وه چې زه دلته د شــمشــیر غار په اړه د معلوماتو راټولولو لپاره راغلې یم یو څه وخت لپاره ته بیرته ځې ځکه مي میلمنه درته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل خور خو مي باید تل راسره پاته سي ولاړه نسي خو ته زموږ څخه ځې.

هیلې په موسکا وویل: یا اوس خو دې نو پردۍ کړم.

محمود هم موســـکی ســـو بیا هیلې وویل: یا وروره زما پلار ډیرې پیسې لري دا ۲۰۰۰۰۰ د هغه په پیسو کي داسي دي لکه ۲ افغانۍ خو دلته ســتا ژوند په جوړیدلای ســي بیا چي یي پیدا کړې بیابه یي بیرته راکوې همداسي یي نه در پرېږدم.

هیله او محمود دواړه موسکي سوه بیا محمود وویل: صحي دی.

هیلې وویل: نن ماښــام به زه بابا ته ووایم شــاید په دا یو څو ورځو کي یي راواستوي بیابه بانک ته پسي ورسو.

محمود وویل: صحی دی هیلې خور مننه ژوندۍ اوسې.

کله چي ماښـام سو نو هیلې د عثیم د لیدو لپاره امادګۍ شروع کړې او د وخت داخلیدو ســره ســم هیله د عثیم پر طرف ورغله کله چي هلته ورســـیدل نو عثیم ورته په بې صـــبرۍ انتظار وو تر روغبړ وروسته عثیم وویل: ځو؟

هیلې وویل: هو.

عثیم وویل: خو زه یو شرط لرم هغه دا چي زه غواړم تا حیرانه کړم نو ځکه تر هغه ځایه ته باید سترګې پټې کړې.

هیلې وویل: خو غوځاره به سم که مي سترګې پټې کړې.

عثیم وویل: نه غوځاریږې زه لار در ښیم.

هیلې وویل: صحي دی.

عثیم وویل: نو سترګې دي وتړم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي د سټېج پر مخ د هيلې کيسـه تر دې ځايه پوري راورسـيدل نو بيا هيلې ګډونوالو تـه وويل: په هغه ورځ زه نه پوهيدم چي عثيم ولي زما سترګې را پټوي هغه خو ماته ويلي وه چي ما حيرانوي نو ځکه ســـترګې راتړې خو حقيقت دا نه وه حقيقت دا وه چي په هغه ورځ عثيم زه بل ځای نه بلکي شمشير غار ته بوتلم سترګې يي ځکه راتړلې وې چي زه ونه بيريږم خو که زه خبره ســـوې وای نو زړه به مي دريدلی وای نو ځکه عثيم داسي وکړه.....

تر څه تګ وروسته عثيم وويل: بس ودريږه راورسيدو.

کله چي عثيم د هيلې سترګې ور خلاصي کړې نو هيلې تر څو شېبو وروسته وليدل چي ددې ومخته څو ښځې ولاړې دي په لاس کي يي د چاکليټو ډک لوښـــي نيولي دي هيله حيرانه ســـول خو عثيم ورته وويل: هيلې! زموږ کندهاريانو داســـي رواج دی چي کله يو خاص څوک لکه نوې ناوې، نوی زوم يا هم چي د حج څخه څوک راغلي وي يا داسـي نور زموږ کورو ته راځي نو ښـځې يي پر سـر باندي چاکليټ اچوي چي دې ته دوی خونی وايي کندهاری لهجه کي ســـتا اجازه ده؟

هيله هغو ولاړو ښځو ته ورنږدې سوه د هري يوې سره تر روغبړ وروســـته به هغو د هيلې پر ســـر چاکليټ اچول او پر تندې به يي مچول(ښکُلول) د ښځو سره تر معرفت او مجلس وروسته هيلې عثيم ته وويل: ستا پلار چيري دی؟

عثيم وويل: بابا راځي د ملګرو سره يي مجلس درلودی ويل يي چي ژر درځم هيلې تهووايه چي خفه کيږه مه.

هيلې شاوخوا کتل بيا يي وويل: عثيم! دا ستاسو څه نا اشنا ځای دی موږ ډير ليري راغلې يو د کـاکـا د کلي څخـه که لږ ځکه هلته نږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما مخکي دومره زياتې رڼاګاني، څراغان او داســـي بنګلې نه وې ليدلي؟

عثيم وويل: يا نبږدي يو خو داســي خبره ده چي مخکي برقونه نه وه دا نن ســـتا د بخته برق راغلی دی او د کاکا د کلي څخه زموږ کلی ځکه نه معلوميږي چي مينځ کي مو غر دی.

عثيم د هيلې فکر ور واړوی بيا يي وويل: هغه دی بابا هم راغلی.

هيلې چي د هغه پر طرف وکتل ليري يي يو سړی وليدی چي د څو نورو کسانو سره را روان وو کله چي هيلې ته رانږدي سول د عثيم پلار خپل ملګرو ته وويل: تاسو دلي ودريږئ.

هغوی چي کله ودريدل د عثيم پلار په موســـکا ســـره د هيلې خواته رانږدي سو او سلام يي ورته ووايه. هيلې هم په موسکا سلام ورته ووايه تر روغبړ وروســـته د عثيم پلار وويل: عثيمه زويه ما نه وه درتـه ويلي که زه وځنډيدم خپل ډوډۍ مو وخوری هيله لور به وږې وي.

عثيم وويل: ما ورته وويل چي ډوډۍ به وخورو خو دې ويل چي بابا راسي يو ځای به يي وخورو.

د عثيم پلار وويل: نو درځئ.

تر ډوډۍ خوړلو او مجلس وروســـته هيلې د عثيم د پلار څخه خدای په امانی واخيســـتې تر څه تګ وروســـته هيله د هغه مخکينيو ښـځو ســـره هم ودريدل د هغو څخه يي هم خدای په امانی اخيســـتی د عثيم پلار عثيم او هيلې ته کتل او ورته موســـکی کيدی ملګري يي څنګته ودريدل ويويل: څه خبره ده؟

د عثيم پلار وويل: د ميرمني تر مرګ وروســـــته مي زوی هيڅکله دومره خوشحاله نه وو ليدلی لکه د کومه وخته چي ددې انجلۍ سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

يي ليدلي دي تل داســـي وو لکه د يو څه په تمه چي وي ما به تل کوښـــښ کوی چي پيدا يي کړم خو ونه توانيدم اخير دا دی ده خپله خپله خوشحالي پيدا کړل.

ملګرو کي يي يوه وويل: خو ته فکر کوې چي د عثيم دا خوشــحالې به دايمي وي؟

د عثيم پلار وويل: خو زه همدا خبرې ته په تشــويش کي يم خو الله جل جلاله ته دعا کوم چي دوی هيڅکله سره جلا نکړې.

تر خدای په امانۍ وروســته هيله او عثيم دواړه روان ســول تر څه تګ وروسته ډيره سخته تياره سول هيلې عثيم ته په موسکا وويل: عثيمه! زه لار نه وينم ما تر لاس ونيسه داسي نه سره ورک سو.

عثيم وويل: صحی دی.

بيا عثيم او هيله تر څو شـــپو وروســـته خپل پخواني ځای ته راورسيدل شپه ناوخته وه سهار ته لږ وخت پاته وو هيلې غوښتل د عثيم څخه خدای په امانی واخلي چي په دي وخت کي د عثيم په نظر کي عبدالله ورغلی چي دوی ته يي پټ پټ کتل. عبدالله وليدل چي هيله خبرې کوي خو څوک نه معلوميږي چي چاته يي کوي هغه پوه سو چي هيله د شمشير غار د پيريانو په قبضــه کي ده نو ځکه يي غوښـــتل چي قلندر خان خبر کړې نو د هغه د کلاء پر طرف ور روان ســـو عثيم هيلې ته وويل: هيلې ته دلته د يو درو دقيقو لپاره انتظار سه زه بيرته راځم ما يو څه هير کړيدي.

هيلې وويل: صحي دی خو ژر راځه.

عثيم وويل: سمه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر تګ وروسته څو شېبې تېرې سوې چې عثیم بیرته راغلی هیلې ته یي وویل: دا دی راغلم نو اوس ورسه داسي نه د سهار اذان شروع سي.

هیلې د عثیم څخه خدای په امانی واخیستی او د کلاء پر طرف روانه سول کله چې کلاء ته ورسیدل دروازه یي وټړل عایشې ته تر کیلۍ ورکولو وروسته بیده سول کله چې غرمه سول او د خوبه راکښېنستل نو تر مخ پریوللو وروسته دباندي ووتل قلندر خان او زامن یي ډېر پریشانه ناست وه کله چې هیله هغو ته نږدي ورغله نو د قلندر خان زوی وویل: جنازه یي پر څو بجې ده بابا؟

قلندر خان په غمګینه لهجه وویل: ماپښین پر ۳ بجې ده.

هیلې وویل: څه خبره ده کاکا د چا جنازه ده؟

قلندر خان وویل: د عبدالله.

هیلې وویل: هغه کاکا چې زما لپاره یي چرګ را استولی وو؟

قلندر خان وویل: هو.

هیله ډېره پریشانه سول بیا یي وویل: اف خدایه دا څنګه هغه څنګه مړ سو کاکا؟

قلندر خان وویل: نه پوهیږم لورې ډیر په ظلم یي وژلی دی.

هیلې وویل: افففف خو د عبدالله کاکا د شکله داسي نه معلومیده چې چاته دي یي تکلیف رسولی وي یا دي د چا سره دوښمني ولري.

قلندر خان وویل: نه پوهیږم خو کلېوال وایي چې د شمشیر غار پیریانو وژلی دی ځکه هغه به سهار ډېر وختي دباندي راوتی مسجد ته به راتلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هيلۍ وويل: هر چا چي وژلی وي الله دي سزا ورکړي څومره نېک سړی وو.

قلندر خان وويل: رښتيا هم ډير نېک سړی وو هر وخت به يي ستا پوښـــتنه کول ما ته به يي ويل چي هيله لورکۍ دباندي باســـه دېغت ونکړي خيال يي ساته داسي کوه و هاسي کوه.

هيلۍ وويل: الله دي يي وبخښي.

کله چي ماښـام سـو نو هيله عايشــې ته انتظار وه خو عايشــه خپل په اطاق کي د هيلۍ څخه پټه ســول هيله پريشــانه وه چي عايشـــه ولي اطاق ته نه ده ورغلې کيلۍ ته هم پريشـــانه وه چي څوک به يي ور وړې ټوله شپه عايشـې ته په انتظار سوه خو هغه رانغله نو مجبوره سول بيده سوه تر څه وخت وروسته مرغه راغلی او د هيلۍ د اطاق پر مخامخ په درخته کي کښـينسـتی او نارې يي کړي شـــاوخوا يي وکتل بيا يي نارې کړې وروســـته په هوا ســـو د هيلۍ د اطاق پر کلکين کښينستی تر څو شېبو ناستي وروسته په هوا سو ولاړی.

د عثيم ملګرې وويل: ته ورته وايي ولي نه ياره؟

عثيم وويل: کـه مي چيري د ميني ورتـه وويـل نو حتمـاً بـه د ځان په اړه هم ورته وايم خو زه بيريږم که مي خپل اصـليت ورته ووايه نو د هغي پـه زړه کي بـه زمـا لپـاره وهم او ببره ځـای ونيســـي او زه نغواړم چي هغه زما څخه وبېريږې بلکي مينه راسره وکړي.

ملګري يي وويل: نو اخير څه کول پکار دي کله چي د هغې پايليک بشپړ سي نو هغه به درڅخه ولاړه سي او دا شايد ډير ژر پېښه سي زه درته وايم چي هر څه ورته ووايه يا به دي خپله سي او يا به دې انتظار ختم سي ځکه انتظار کول تر مرګ هم بدتر دي.

عثيم وويل: فکر به وکړم چي څه کول پکار دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي سـهار سـو هيلې غوښـتل د عايشـې څخه د تيري شـپې د نه ورتګ علت وپوښـتي خو عايشـې به د خوابنـې يا هم د قلندر خان سره ځان مصروفه کوی اخير دا چي هيله تر اخيره ونه توانيدل چي د عايشـې سره خبرې وکړي او د تيري شپې د نه ورتګ پوښتنه او د راتلونکې شـپې لپاره د کيلۍ غوښـتنه ځني وکړي. کله چي شـپه سـول هيله په فکرو کي غرقه وه چي نن دوهمه شـپه ده چي د عثيم سره مي ندي ليدلي څو ورځې همداسـي تيرې سوې يوه ورځ سهار تر ناشـتې خوړلو څو شـيبې وروسـته د کلاء دروازه وټکېدل قلندر خان چي د کلاء په منځ کي پر کټ ناسـت وو خپل زوی ته وويل: هلکه ورسه وګوره چي دا دروازه څوک ټکوي!

زوی يي وويل: سمده بابا.

کلـه چي د قلنـدر خـان زوی دروازه خلاصـه کړل ګوري چي د استخاباراتو پوليس ولاړ دي تر روغبړ وروسته قومندان وويل: پلار دي چيري دی؟

د قلندر خان زوی وويل: کور کي دی.

قومندان وويل: ورسه ورته ووايه چي راووځه!

د قلنـدر خـان زوی دننـه ولاړی قلنـدر خـان تـه يي وويـل: بـابـا د اسـتخاباراتو پوليس راغلي دي وای پلار ته دي ووايه چي دباندي راووځي.

قلندر خان حيران سو چي په دا سهار وختي بيا استخابارات څه کوي خو کله چي ور ووتی نو تر روغبړ وروسـته قومندان وويل: حاجي کاکا څو ورځي مخکي ستاسو يو کليوال وژل سوی وو تاسو به خبر ياست؟

قلندر خان وويل: هو خبر يم ښه مي پيژندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قومندان وويل: موږ د هيلي په نامه ستاسو په کور کي ميلمنه د هغه د وژنې په تور د تحقيق لپاره بيايو.

قلندر خان ډير حيران او په غوسه سو بيا يي وويل: ته په سد کي يي چي دا څه وايي؟

قومندان وويل: هو حاجي کاکا په ســـد کي يم موږ د هغي پر ضـــد ثبوتونه لرو هغه بايد زموږ ســـره ولاړه ســـي که نه موږ به يي په زوره بوځو.

قلندر خان نور هم حيران ســـو بيا يي په غوســـه وويل: که دې دا دريشي نه واى اغوستې ددې خبرې ما ډير ښه جواب درکوى.

قومندان وويل: ګوره حاجي کاکا موږ دېته مه مجبوره کوه چي د زور څخه کار واخلو.

قلندر خان وويل: چي په تا نکيږي هغه وکړه لاس دي آزاد هغه دي توپک دى او دا زما سر که تا زما د کور خواته يو قدم هم کښېښوى نو يا به ما وژني يا به تا وژنم.

يو پوليس قومندان ته پټ وويل: قومندان صاحب دى ددې کلي مشر دى که مو لږ بې ادبې ور ســـره وکړه نو کليوال به مو ســـر د تنه راجلا کړې.

قومندان قلندر خان ته وويل: اوس ځم خو چي بل وار راځم که اړتيا سوه نو د سرونو بازې به هم سره وکړو.

قومندان دا خبرې وکړې بيا ولاړى کله چي يي مشـر آمر ته د قلندر خان کيســې جريان ووايه نو هغه ورته وويل: بې عقله تاته چا وويل چي ته د قلندر خان سره داسي بې ادبه خبرې وکړه بيا ته نه يي خبر چي که دوښـمن هم د پښـتانه ميلمه سـو نو د دوسـتانو پځير چلند ور سـره کوي د پښـتنو پر سـترخوان دوښـمن هم دوسـت وي بله غلطې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې دا کړیده چي زموږ یو اسلامي هیواد او نظام دی کفري هیوادو کي لا هم چي ښځه ګفتاروي نو ښځینه پولیسه در سره بیایي تا در سره بیولي وه؟

قومندان وویل: یا آمر صاحب.

آمر وویل: ښار ته خبر ور واستوه چي سباته زموږ ښځینه پولیسو ته ضرورت دی راوایستوی.

قومندان وویل: سمده آمر صاحب.

کله چي قلندر خان هیله ددې خبرې خبره کړه نو هغه ډیر وبېریدل بیا یي وویل: ما به عبدالله کاکا ولي وژی پر هغه خو زه د خپلې لور پځیر ګرانه وم.

قلندر خان وویل: نه پوهیږم چي څه خبره ده چي هغو ولي داسي ویل.

یو ملګری په ځغاسته عثیم ته ورځغستل په لنډه لنډه ساه اخیستلو یي وویل: عثیمه عثیمه ټکه راولویدل.

عثیم په وارخطایی د ځایه ولاړ سو بیا یي وویل: څه وسوه؟

ملګرې یي کیسه ورته وکړه په دې سره عثیم عصباني سو فکر او سد یي کار پریښوی دیوال ته یي سوک کش کړ پر سر یي لاسونه ونیول ډیر غمګین سو. په دې خبر سره اجمل او بیا د هیلې پلار فرشاد هم خبر سول ټول ډیر وارخطا وه د هیلې پلار په هم هغه وخت د طیارې ټکیټ وکړ او د کندهار پر طرف روان سو تر څو ساعتو وروسته ټول د قلندر خان کور ته راورسیدل هیلې د پلار په لیدو د هغه غیږ ته ځان ور ورسوی او په غیږ کي یي ونیوی تر سترګو یي اوښکې رواني سوې پلار یي وویل: مه ژاړه لورې هر څه به خدای سم کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر روغبړ وروسته ټولو تر ماښامه بحث سره وکړ بیا قلندر خان وویل: خیر تشویش مکوی ان شاءالله چي هیڅ کوم جرم کړی ندی نو ثبوت به د کومه کړې دوی.

کله چي سبا سو نو غرمه مهال بیا دروازه وټکېدل کله چي د قلندر خان زوی ورغلی د هغې خوا چي بیرته راغلی نو وې ویل: بابا آمر صاحب راغلی دی.

قلندر خان او ټول دباندي ور ووتل تر روغبړ وروسته آمر وویل: حاجي کاکا ډیر وبخښی چي تکلیف درکوو خو دا زموږ وظیفه ده.

قلندر خان وویل: کومه خبره نه ده خو دا ووایست چي بیا څنګه راغلي یاست؟

آمر وویل: حاجي کاکا تاسو شاید تیره ورځ د موضوع څخه خبر سوې یاست لومړی خو بخښنه غواړم چي زما قومندان ستاسو سره بې ادبي کړې وه او بیله ښځینه پولیسو راغلی وو موږ راغلي یو چي ستاسو میلمنه د تحقیق لپاره قومندانۍ ته بوځو ځکه د هغې پر ضد باندي قضیه ثبت سویده او موږ تر څو څېړنو وروسته ستاسو کور ته راغلو که نه نو تکلیف مو نه در کوی بیا ستاسو مېلمنه زموږ مېلمنه هم ده بلکي د ټول کندهار مېلمنه ده خو د قانون ځنځیرانو مو لاسونه راتړلي دي چي باید د هغې څخه تحقیق وکړو موږ ښځینه پولیسې را وستلې دي که ستاسو خوښه وي ستاسو مېلمنه به زموږ سره ولاړه سي؟

قلندر خان وویل: پوهیږم تحقیقات کول ستاسو حق دی خو ته به ښه خبر یي چي موږ پښتانه یوازې ښځه دباندي نه پرېږدو د پردو خلکو سره خو بیخي نه که ته کوم انتقاد نلرې موږ به هغه خپله درولو قومندانۍ ته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

آمر وویل: دا خو ډیره ښه خبره ده ټول داسي راسی لکه زما مېلمانه چي یاست.

قلندر خان وویل: ډیره مننه آمر صاحب ان شاءالله موږ به په یو څو دقیقو کي درسو.

د هیلي پلار وویل: آمر صاحب تاسو ویلای سی چي موضوع څه ده؟

آمر وویل: قومندانۍ ته راسی چای به هم راسره وڅښی او په موضوع به مو هم پوه کړم اوس رابانديي ناوخته دی قومندانۍ کي کارونه هم زیات دي.

وروسته آمر د ټولو څخه خدای په امانی واخیستی او ولاړی.

کله چي قلندر خان او نور ټول کور ته ننوتل نو تر مشورو او خبرو وروسته یې غوښتل چي د هیلي سره یو ځای قومندانۍ ته ولاړ سي هیله چي کله روانیدل د قلندر خان د میرمني پر اوږه یي په ژړا سر کښیښوی ډیره وارخطا وه د قلندر خان میرمني ورته وویل: مه ژاړه لوري چي ګناه دي کړي نه وي د دنیا هیڅ قانون تاته سزا نسي درکولای په ډاډه زړه ورسه.

هیله د قلندر خان د میرمني په خبرو څه ارامه سوه بیا ټول د قومندانۍ پر طرف روان سول آمر چي کله دوی ولیدل نو ډیر خوشحاله سو تر څه بانډار وروسته د عبدالله ښځه او ورونه هم راورسیدل هغو په ډیره غوسه هیلي ته کتل تر څو شیبو وروسته آمر وویل: ستاسو محکمه سباته شروع کیږي نن مازي د حاضرۍ فورمه امضاء کړی.

هیلي او د عبدالله ښځي او ورونو فورمه امضاء کړل بیا آمر د عبدالله ښځي او ورونو ته وویل: تاسو ولاړ سی سباته راسی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی ولاړل بیا آمر قلندر خان ته وویل: حاجي کاکا دا یو عجبه قضـــیه ده زه غواړم دا خور ددې قضـــیې وژغورم ځکه دا زموږ مېلمنه ده خو قضـیه ثبت سـویده دا باید سـباته ټول رښـتیا ووایي زه پوهیږم قتل دې نه دی کړی د عبدالله کورنۍ هم په دې پوهیږي چې دا انجلۍ قتل نسـي کولای خو د ښــکېلتیا په خاطر د عبدالله کورنۍ غواړي دې ته سزا ورکړي ځکه ددې په سبب قاتل قتل کړیدی خو ثبوتونه ټول ددې خور پر ضد دي.

ټول ډیر حیران سول بیا د هیلې پلار وویل: قاتل ددې په سـبب ولې قتل کوی موږ پوه نسـوو او دا قاتل دی څوک چې سـزا یي زما لور ته ورکول کیږي؟

آمر وویل: که د قاتل په اړه درته ووایم شاید تاسو باور ونکړی ځکه کیدای سـي ستاسو لور ستاسو څخه دا خبره پټه کړې وي یا هم شاید دا خپله خبره نه وي چې قاتل څوک دی.

قلندر خان وویل: آمر صاحب داسي صفا صفا ووایه چې قاتل څوک دی او دا د هغه سـره څه پېژني دا خو د کوره نه ده وتلې چې وځي هم زه یا د کورنۍ نور غړې مي ور سره وي.

آمر وخندل بیا یي وویل: حاجي کاکا قاتل دا پېژني او هره ورځ دا ور سره ویني هم ځکه د قتل د ځای سره موږ ددې د پښو پلونه پیدا کړل چې په هغه شپه یوازې ددې پلونه تازه وه پر هغه لاره.

هیله حیرانه سول چې آمر څوک یادوي چې قاتل دی او زه یي پیژنم بیا د هیلې پلار وویل: آمر صـــاحب ته پوهیږې چې موږ ســـخت پریشانه یو نو سم ووایه چې څه خبره ده او قاتل څوک دی؟

آمر هیلې ته وکتل بیا یي ورته وویل: ته هره شپه د چا سره وینې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې سـره هیله وارخطا او ټول حیران سـول څه یي ونه ویل آمر بیا پوښتنه وکړه وېویل: ووایه چي ته د چا سره وینې هره شپه؟

هیلې سـر لاندې وځړوی څه یي ونه ویل بیا یي پلار وویل: هیلې لورې د آمر صاحب د پوښتنې جواب ورکړه ته د چا سره وینې؟

قلندر خان وویل: آمر صـاحب زه چي بېدېږم هره شـپه دروازه قلفوم نو بیا دا د چا سره او څنګه ویني؟

آمر وویل: نـه پوهیږم چي دا پـه هوا هلتـه ځي او کـه د دیواله اوړي خو هره شپه دا د یو چا سره ویني هغه به دا خپله ووایي.

هیلې بیا څه ونه ویل بیا یي پلار وویل: هیلې ووایه چي آیا ته د شپې دباندې وځي او د یو چا سره وینې؟

هیلې څه نه ویل خو کله چي یي پلار په غوسـه باندې ناره کړه چي: هیلې زه څه درته وایم ته زما اوازه اورې آیا ته د یو چا سره وینې؟

هیله وبېریدل په بنده بنده لهجه یي وویل: هو بابا.

په دې سـره ټول ډیر حیران سـول بیا هیلې وویل: خو بابا هغه یو شـپانه هلک دی ما د شـمشیر غار په اړه معلومات ځني غوښتل هغه معلومات راکول.

په دې سره یي پلار هیله ټینګه چپلاخه ووهل بیا یي ورتـه وویل: نو د بې عقل لورې څوک د شپې ور سره وینـي؟

قلندر خان او آمر د هیلې پلار ته وویل: چي آرام اوسه.

د هیلې تر سترګو اوښکې رواني سوې بیا تر څو شېبو وروسته آمر وویل: هیلې ته پوهیږې هغه هلک څوک دی؟

هیلې څـه نـه ویل لاندې یي کتل بیا آمر وویل: هغه هلک شـــپانه نه بلکې د شمشیر غار پیری دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې سره هيلې سر راپورته کړ آمر ته يې وکتل ډېره حيرانه وه چې دا څه وايي نور هم ټول ډېر حيران سول د هيلې پلار په حيرانتيا وويل: څه؟!

آمر وويل: هو هغه پيرى دى او عبدالله هم هغه وژلى دى.

هيلې وويل: يا داسي نسي کيداى.

آمر وويل: که ته باور نلرې نو ورسه نن يي خپله ځانته ثابته کړه که هغه انسان ذات دى نو هغه ستا سره د ورځې ولي نه ويني.....

هيله او کورنۍ يي کور ته روان سول د نورو سره سره هيله هم په فکرو کي غرقه وه چي دا څه يو عجب حالت دى د هيلې په ذهن کي د آمر دا خبره څو څو واري تکراريدل: هغه هلک شپانه نه بلکي د شمشير غار پيرى دى.

کله چي کلاء ته ورسيدل ټول په فکرو کي غرق وه چي شپه سول نو هيله د اطاق څخه دباندي راووتل پلار يي وويل: اوس چيري ځې؟

هيلې وويل: بابا زه غواړم د هغه هلک سره ووينم.

پلار يي په حيرانتيا وويل: ته پر سد يي هيلې؟

هيلې وويل: هيله کوم بابا ما پرېږده چي د هغه سره ووينم.

پلار يي وويل: نه پوهيږم چي په تا څه وسول تا د آمر خبرې نه واوريدي چي هغه وويل چي هغه پيرى دى انسان ندى.

قلندر خان وويل: فرشاده هيله پرېږده چي د هغه سره ووينې.

د هيلې پلار په حيرانتيا وويل: څه؟

قلندر خان وويل: زه درته وايم چي هيلې ته اجازه ورکړه چي د هغه سره ووينې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هيلې پلار او اجمل غوښـــتل څه ووايي خو قلندر خان وويل: زه درته وايم اجازه ورکړی.

بيا د هيلې پلار هيلې ته اشـاره وکړه چي ورسه کله چي هيله ولاړل قلندر خان وويل: فرشـــاده هغه ســـتا لور ته هيڅ تاوان نســـي ور رسـولای که يي ور رسـوی نو اول سـر کي يي ور رسـوی ما ځکه اجازه ورکړه چي ستا لور د سزا څخه يوازي هغه هلک ژغورلای سي.

فرشاد وويل: هغه څنګه؟

قلندر خان وويل.... :

هيله د شـمشـير غره پر طرف روانه سـول کله چي د عثيم د ناسـتي ځای ته ورسـيدل نو وېليدل چي عثيم هم هلته ناسـت دی خو دې ته يي شـــا ده کله چي هيله ور نږدې ســـول نو په ژړا يي ورته وويل: ولي دې زما سره داسي وکړه؟

ددې په بږغ سره عثيم ژر ولاړ سو اوښکې يي پاکي کړې بيا يي په موسکا وويل: اووی ته راغلې؟

هيلې وويل: هو راغلم ولي تا فکر وکړ چي ســتا د حقيقته خبره ســم نو درڅخه وبه بېريږم زه ددې پوښـــتنې جواب ته راغلم چي تا ولي زما سره داسي وکړه.

عثيم وويل: هيلې ما غوښتل رښتيا درته ووايم خو زه بيريدم چي که ته زما په اړه خبره سې چي زه د انسان ذاته نه يم نو ته به زما څخه وبېريږې او نفرت بـه راڅخـه وکړې نو ځکه مي رښـــتيا درته ونه ويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیلۍ په غوسـه وویل: نفرت او بېره خو اوس در ښځه کوم ځکه ته د پيري سره سره قاتل هم يي عبدالله کاکا څومره نیک سړی وو تا هغه ووژی.

عثیم په اوښکو ډکو سترګو وویل: هیلۍ زه قاتل نه یم هغه ما ستا په خاطر ووژی.

هیلۍ په حیرانتیا وویل: زما په خاطر؟

عثیم وویل: هو سـتا په خاطر ځکه زه سـتا سـره مینه کوم او هغه غوښتل چي په ما و تا کلی خبر کړي او سره جلا مو کړي.

هیلۍ د درد په خندا سره وویل: واه څومره عجبه مینه دې ده زما په خـاطر دې وواژه او قربـاني دي هم ورتـه زه کړم واه ومي منلې کندهاریه اوس مي ښه سم ومنل چي تاسو کندهاریانو هر وخت غمو او ستونزو ته ښځې قرباني کړیدي.

عثیم وویل: هیلۍ زما ښځه غلطې وسـوه ځکه زه سـتا په مینه کي لیونـی سـوی وم او یم هغه وخت یوازي ما سـتا مینه لیدل هغه وخت زما په فکر کي د جدایۍ غم راپورته سـو هغه مي په دومره سـختی ووژی چي تر اوسه به هیچا داسي په ظلم څوک نه وي وژلی خو دا هر څه مي ستا د میني په خاطر کړیدي.

هیلۍ وویل: تـه خو زمـا لایق لا نـه یي نو زما د میني لایق به څنګه سې ځم نوره د تل لپاره صرف د همدې خبرې د پاره راغلې وم چي تا خپل ضمیر او وجدان ته وشرموم.

کله چي هیله روانه سـول عثیم وویل: زه دې نه پرېږدم چي ته زما ښځه جدا سې.

هیلۍ بیرته مخ ورته راواړوی وېویل: نو څه به وکړې ما به هم مړه کړې که را ونه ګرځم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

قلندر خان، فرشـاد او اجمل ټولو د بام د سـر څخه هیلۍ ته کتل چي هغې د عثیم سره خبرې کولې خو دوی یوازي هیله لیدل چي خبري کوي.

عثیم د هیلۍ خواتـه ورنږدي ســـو د هغي بازوګان یي ونیول بیا یي وویل: تا دا فکر لا څنګه وکړ چي زه به تا مړه کوم.

هیلۍ وویل: قتل خو ستاسو عادت دی.

د عثیم تر ســترګو نوري اوښــکې توی ســوې بیا یي په ژړا وویل: داســـي مه وایه هیلۍ زه ســتا ســره بې حده مینه کوم ما یوازي مه پرېږده زه د هغه ورځې پر تا مین سوی یم چي کله ته اول وار کلي ته راغلې.

هیله د هغه څخه په ژړا روانه سول او کلاء ته یي ځان ورسوی کله چي خپل اطـاق تـه ولاړل نو ډیر یي وژړل کلکین تـه نږدي درختـه کي مرغه کښینستی او ناري یي شروع کړې د هغه په نارو هیلۍ په حیرانتیا د هغه خواته وکتل بیا یي خپله اوله ورځ وریپاد ســول چي دا راغلې وه هم دا مرغه راغلی وو او دې ته په کتو یي نارې وهلې بیا یي د عثیم هغه خبره ور یاده سـول چي ویل یي زه د هغه ورځې پر تا مین یم چي اول وار ته کلي ته راغلې هیله پوه سول چي دا هم عثیم دی بیا یي کلکین ورته بند کړ.

سـبا ته محکمې ته ټول حاضـر سـول د محکمې شـروع کیدو مخکي آمر قلندر خان ته وویل: تاسـو راسـئ زه تاسـو ته د محکمې شـروع کیدو مخکي یو څو خبرې وکړم.

ټول ور سـره ولاړل بیا آمر وویل: زه مجبوره یم چي باید د قاضـي مخکي د هیلۍ پر ضد راټول سوي ثبوتونه کښیږدم که هیله محکمه کي رښتیا ووایي نو که د ثبوتو حاضرولو سره سره قاضي ددې پر ضد فیصله وکړې زه سل په سلو کي باورې یم چي هغه پیری به یا

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاضر سي يا به کوم داسي کار وکړي چي په سبب يي هغه مجرم وګڼل سي او هيله د قضيې څخه خلاصه سي که هغه ځان حاضر کړ نو سزا به هغه ته ورکړل سي.

هيله ددې خبرې په اوريدو په فکر کي سـول کله چي د آمر خبرې خلاصي سوې نو د هيلې پلار وويل: هيلې د آمر صاحب په خبرو دې سر خلاص سو؟

هيله لا هم په فکر کي وه بيا يي پلار وويل: هيلې**!؟**

هيله لکه د خوبه چي وي او يو دم راکښيني بيا يي وويل: ها**؟!**

پلار يي وويل: د آمر صاحب خبرې دي واوريدې هغه واى چي ټول رښتيا ووايه که هغه هلک ځان حاضر کړ نو سزا به هغه ته ورکړل سي.

هيلې وويل: صحي دی.

بيا ټول محکمې ته حاضر سول محکمه شروع سول تر ثبوتو وړاندې کولو وروسته قاضي هيلې ته وويل: د ټولو ثبوتو وړاندي کولو وروسته بيا هم ته ويلاى سې چي ته قاتله نه يي؟

هيله په فکرو کي وه د آمر هغه خبرې يي وريادي سوې چي ويل يي که هغه هلک محکمې ته حاضر سو نو سزا به هغه ته ورکړل سي بيا د عثيم هغه خبرې ور يادې سوې چي ويل يي: هيلې زه قاتل نه يم هغه ما ستا په خاطر ووژی هيلې زما څخه غلطې وسوه ځکه زه ستا په مينه کي ليونی سوی وم او يم هغه وخت يوازي ما ستا مينه ليدل هغه وخت زما په فکر کي د جدايي غم راپورته سو هغه مي په دومره سختی ووژی چي تر اوسه به هيچا داسي په ظلم څوک نه وي وژلی خو دا هر څه مي ستا د ميني په خاطر کړيدي.

قاضي بيا وويل: هيلې آيا دا قتل تا کړيدی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیلۍ تر څو شېبو وروسته قاضي ته وکتل بیا یي وویل: هو!

په دې سره ټول ډېر حیران سول بیا د هیلۍ پلار ولاړ سو په غوسه یي هیلۍ ته وویل: هیلۍ دا څه وایي قاضي صاحب ته رښتیا رښتیا ووایه چي دا قتل تا نه بل چا کړیدی!

هیلۍ پلار ته وکتل بیا یي سر لاندي وځړوی پلار یي بیا په غوسه ورته وویل: هیلۍ تاته وایم؟

د هیلۍ تر سترګو اوښکې روانې سوې تر پښو ولویدل پنجره کي کښېنستل په ژړا یي شروع وکړه بیا د هیلۍ پلار قاضي ته وویل: قاضي صاحب دا درواغ وایي رښتیا داسي ندي دې په ټول عمر کي یو کوچنی مچ ندی وژلی نو انسان به څنګه مړ کړي قاضي صاحب ته موږ ته وخت راکړه موږ به دا پوه کړو چي رښتیا ووایي.

قاضي تر څو شېبو وروسته وویل: سمده تر سبا پوري محکمه معطله کوو خو سبا اخیرې فیصله کوم.

فرشاد وویل: ډېره مننه قاضي صاحب.

کله چي ټول کور ته راورسیدل نو د هیلۍ پلار هیله تر لاس ونیول د موټر څخه یي راکښته کړل تر دریدو وروسته یي ټینګه چپلاخه (څپېړه) ورکړل په دې سره اجمل او قلندر خان هغه ونیوی ورته ویویل: فرشاده ارام اوسه.

د هیلۍ تر سترګو اوښکې روانې وې څه یي نه ویل بیا فرشاد په غوسه وویل: نه پوهیږم دا د بې عقل په لور څه وسول چي قتل یي کړی ندی نو وې منل څنګه؟

قلندر خان هیلۍ ته وویل: هیلۍ لورې تا ولي داسي وویل آیا ته پر سد وې په هغه وخت کي تا وویل چي قتل تا کړیدی داسي خو به نه وه چي هغه پر تا کوم جادو یا منتر ویلی وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیلۍ تر څو شېبو وروسته وویل: یا کاکا هغه په ما هیڅ جادو نه دی کړی ما ځکه ومنل چي هغه دا هر څه زما لپاره وکړل.

ټول ډېر حیران سول بیا قلندر خان وویل: ستا لپاره؟

هیلۍ وویل: هو کاکا ځکه په هغه شپه چي زه او عثیم سره ولاړ وو نو عبدالله کاکا ولیدلو هغه فکر کوی چي زه د پیریانو په قبضــه کي یم نو ځکه یي غوښــتل چي تاســو او ټول کلی خبر کړې عثیم فکر وکړ چي زه به د عبدالله کاکا په خبرداري د هغه څخه جلا ســـم نو ځکه یي هغه مړ کړ.

ټول ډېر حیران وه بیا اجمل وویل: خو دا هر څه هغه ستا لپاره ولي وکړل؟

هیلۍ تر څو شېبو وروسته وویل: ځکه هغه زما سره مینه کوي.

پـه دې خبره ســـره ټول نور هم ډېر حیران ســـول د هیلۍ پلار په حیرانتیا هیلۍ ته وویل: څه؟ تا څه وویل هغه ستا سره مینه کوي؟

هیلۍ وویل: هو بابا.

د هیلۍ پلار تر څو شـــېبو حیرانتیا وروســـته وویل: زما یوه خبره واوره ســـبا تـه که دې محکمه کي رښـــتیا ونه ویل نو تر ما به بد هیڅوک نـه وي دا زموږ پـه رکم محکمـه نه ده دلته افغانســـتان کي اسلامي شرعې محکمه ده او ته خبره یې چي شرعي محکمه کي د قتل سزا څه شي ده قصاص دی قصـاص سبا ته که قاضـي ستا پر ضد فېصله وکړه نو ته به قصاص سې یعني د هغه مړي کورنۍ به تا ووژني.

هیلۍ څه ونه ویل بیا د قلندر خان میرمني تر لاس ونیول خپل اطاق ته یې بوتله. اجمل فرشاد تر اوږو ونیوی پر کټ یي کښېنوی بیا یي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته وويل: فرشـــاده ته فکر مکوه الله جل جلاله به هر څه خير کړي.

فرشاد تر څو شېبو وروسته په ژړغونې اواز وويل: اجمله په ټول ژوند کي خو همدا يوه لور مي ده که مي دا هم د لاســه ورکړه نو زما ژوند به هم لمنځه ولاړ ســي زه نغواړم چي لور مي د لاســه ورکړم اجمله ته ددې ځايه د وتلو يو لار راوښيه زه غواړم لور مي خوندي او سلامته ددې ځايه بوځم.

اجمل وويل: فرشاده! پر ولسوالی،ولايت او ټول هيواد کي شاوخوا چيک پاينټونه او پوستې دې هيڅ د وتلو لار نسته.

فرشاد وويل: نو زه څه وکړم؟

هيله په اطاق کي د قلندر خان د ميرمني سره ناسته وه هغې ورته وويل: لورې پلار دې ښه درته وايي ته هر څه چي رښتيا وي ورته وبوايه هغه هلک ته ببله هغه هم سزا نسي ورکولای ځکه ويني خو يي نه رب دي د عبدالله د ورونو پر زړونو د رحم اوبه تيري کړي چي ووايي چي نور ددې قضيې څخه لاس واخلي.

تر څه نصيحت وروسته د قلندر خان ميرمن ولاړل هيله اطاق کي يوازې پاته سول تر څو شېبو وروسته بيا د چوغکې نارې سوې هيلې د درختې خواته د اوښکو په سرو سترګو وکتل په درخته کي بيا هغه چوغکه ناسته وه هيلې ته يي کتل او نارې يي وهلې هيلې په ژړغونې اواز وويل: ولاړ سه د ژونده مي.

خو هغه چوغکې چي مخکي يي په لوړ اواز نارې وهلي بيا يي کرار نارې شروع کړې هيله ولاړه سول غوښتل يي چي کلکين بند کړې ورته خو کله چي يي کلکين بند کړ او غوښتل يي چي کټ ته ولاړه سي په دې وخت کي د لاندې د خوا څخه کوچنيانو پر چوغکه د ډبرې واری وکړ چي د چوغکې پر وزر ډبره ولګيدل په دې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

چوغکې يو دم لويه ناره وکړه او لاندې ولويدل هيلې چي درختې ته وکتل نو چوغکه نه وه خو کله چي يي لاندې وکتل نو کوچنيانو هغه پـه لاس کي نيولې وه او بازۍ يي په کولې. هيله په دي ســـره ډيره وارخطا سوه بيا په ځغاسته د اطاقه ووتل کله چي لاندي ولاړه نو د کوچنيانو پر خوا يي ور وځغســـتل ټولو هيلې ته کتل چي هغه ولي ځغلي. هيلې د کوچنيانو د لاسه هغه چوغکه واخيستل او د کلا څخه ووتـل پلار او نورو ټولو ورتـه کتـل چي هيلـه چيري ولاړه او دا چوغکـه يي ولي پـه لاس کي نيولې وه. هيلـه چي کلـه د کلا څخـه ووتل نو د شمشير غر پر خوا ولاړه کله چي ددې او عثيم د ملاقات ځای تـه ورســـيدل نو هغه چوغکـه يي د عثيم د نـاســـتې پر ځای کښـيښـول دا ليري ورته ودريدل بيا يي په ژړا ورته وويل: ولـي مي نوره زوروې بس ده ما و غم مي سره پريږده؟

هيله روانه سول خو عثيم ور ناره کړه: هيلې!

هيلې چي کلـه ورتـه وکتـل نو د عثيم لاس ســـخـت زخمي وو دې غوښـتل ولاړه سـي خو بيرته ورته راوګرځيدل او د عثيم لاس يي د خپل پوړني پـه يو ټوټـه ور وتړی د لاس تړلو پـه وخت کي د هيلې تر سترګو اوښکې د عثيم پر لاس توی سوې بيا يي د هغه لاس خپل په لاس کي ونيوی او مچ (ښکُل) يي کړ عثيم په موسکا ورتـه وويل: مينه سوې پر پيري؟

هيلې د ګيلې په ډول په ژړغوني ږغ ورته وويل: څه فايده ســبا بيله هغه هم ماته سزا راکول کيږي د تل لپاره به ولاړه سم درڅخه.

عثيم تر څو شـيبو پوري د هيلې ســترګو ته کتل بيا يي په موســـکا وويل: ليونـۍ زه به ژوندی يم او تاته به سزا درکوي؟

هيلې د مســـخرو پـه ډول ورتـه وويـل: خبرې مکوه هغـه کوچنيو هلکوانو پر دا حال کړې ته وګوره ځاننه يواري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عثیم په خندا ســـو بیا یي وویل: هغو د ظالم زامنو ناپامه وویشـــتلم داســـي ښـــکار یي زده وو که المپیک ته یي ســـتاســـو قلندر خان کاکا واستوي د افغانستان نوم به ور روښانه کړي.

په دې سره هیله موسکۍ سوه بیا یي وویل: لاس دي سخت زخمي دی او ته دلته ماته مسخرې او ټوکې کوې؟

عثیم وویل: پوهیږې هیلې چي ته په خندا کي څومره ښـــایســـته معلومیږې؟ زه خو څه که ستا خندا لویو لویو بزرګانو هم لیدلې وای نو هغوی به هم لیونیان ســـوي وای او ســـتا په مینه کي به داســـي لیونتوب ته رسېدلې وای لکه زه چي ورسیدم چي قتل مي وکړ خو په ځان پوه سوی لا نه یم.

د هیلې خندا سره ټوله سوه بیا یي وویل: تا باید داسي نه وای کړي عثیمه بیله هغه هم چي ټوله دنیا خبره سوې وای بیا یي هم زه ستا څخه نه وای جلا کړې اوس وګوره په مرګ درڅخه ج..

هیلې خبره پوره کړې نـه وه چي عثیم یي پر خولـه لاس ور ونیوی بیا یي په غیږ کي ونیول په غوســـه یي ورته وویل: بیا داســـي خبره ونکړې هیلې.

تر څو شپېو وروسته قلندر خان او د هیلې پلار د کلا څخه راووتل او د شمشیر غر خواته په نږدې کیدو یي د هیلې هیلې ناري شروع کړې هیلې عثیم ته وویل: زه ځم.

د تلو په وخت کي هیلې د عثیم مخ په دواړو لاسو کي ونیوی پر مخ او تندې یي ژر ژر ښـــکُل کړ بیا ځني روانه ســـول کله چي هیله ولاړل نو عثیم تر شا ورته وکتل موسکی سو د ځان سره یي وویل: لیونۍ تر هغه مرګ چي ســـتا ســـزا ته ګورم وژل کیږم ماته تر هغه مرګ ډیر اسان او قبول دی چي ستا مخکي ووژل سم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبا ته محکمې ته د تلو مخکي د هیلې پلار هیلې ته ډیرې لارښوونې وکړې تر څنګ یي په اړه ډیر پریشـانه هم وو خو بیا زړه نا زړه د محکمې پر طرف روان سـول کله چي محکمې ته ورسـېدل نو آمر ورته وویل: ستاسو محکمه نوره پای ته ورسېده تاسو تللای سی.

هیله د هیلې پلار او نور ټول ډیر حیران او خوشـحاله سـول بیا د هیلې پلار په موسکا سره وویل: څه؟

آمر وویل: هو ستاسو محکمه پای ته ورسېدل خو په یو شرط چي تاسو به سباته ددې ځایه ځی.

د هیلې پلار وویل: که پرواز وو نن لا ځو خو تاسو دا راته ووایست چي دا وسول څنګه.

آمر هیلې ته وویل: هیلې خور ته هلته ورسه یو څو فورمې دې هغه به امضاء کړې.

هیله هغه اطاق ته ورغله چي آمر ور ښـولی وو بیا آمر د هیلې پلار، قلندر خان او اجمل ته وویل: تاسو زما سره راسی!

کله چي ټول دباندي ووتل نو آمر وویل:............

هیلې چي کله فورمې امضاء کړې نو دباندي راووتل ګورې چي آمر ددې پلار او قلندر خان ته خبرې کوي هیلې چي خپل پلار ته وکتل نو پلار یي ورته څه پریشانه معلوم سو تر څو شېبو وروسته آمر او نور ټول بیرته د هیلې خواته راغله بیا آمر وویل: نو هیلې خور تاسو ته ښه وخت غواړم خدای دې وکړې چي زموږ لخوا په تکلیف سوې نه یې موږ خپله وظیفه اجرا کول که نه هیڅکله به مو تکلیف نه وای درکړی.

هیلې وویل: نه آمر صـاحب کومه خبره نه ده زه پوهیږم چي تاسو خپله وظیفه اجراء کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته ټول د کور پر طرف روان سول په موټر کي هم هيلۍ خپل پلار ته کتل چي پريشانه معلوميدی کله چي کلاء ته ورسيدل نو ټول ددې خبر په اوريدو ډير خوشحاله سول خو د هيلۍ به کله کله پلار ته هم فکر کيدی چي پريشانه به وو ساعت وروسته هيلۍ غوښتل په دا ښــــه خبر باندي عثيم هم خبر کړې نو ځکه د شــــمشــــير غار پر طرف روانه سول کله چي هلته ورسيدل نو عثيم ورته په انتظار وو او د هيلۍ په ليدو ډير خوشحاله سو هيله هم د هغه په ليدو خوشحاله سـول بيا يي په خندا وويل: عثيمه عثيمه عثيمه زما محکمه خلاصـه سول اوس زه کور ته تللای سم.

عثيم د ناز په ځير په خپګان وويل: ما پرېږدي ځې؟

هيلۍ وويل: اې خو تا هم د ځان سره بيايم زه بابا راضي کوم زموږ په واده.

عثيم وويل: زه نسم تللای هيلۍ.

هيلۍ وويل: ولي؟

عثيم وويل: زه بايد دلته ځني کارونه سرته ورسوم.

هيلۍ وويل: کوم کارونه ايا تر ما ډير مهم دي تاته؟

عثيم وويل: ليونۍ ته ځان د هر څه سره مه مقايسـه کوه تر تا به زه هر څـه قربان کړم دا هر څه خو ســـتا په خاطر کوم چي تر څو ته خوشحاله اوسې.

هيلۍ عثيم تر ګريوان ونيوی ورته وېويل: ګوره هلکه که په سمه نه راسره ځې په زور دې بيايم.

عثيم په خندا وويل: ښه اوس دې بدماشي هم شروع کړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هيلۍ وويل: هو نو څه به وکړې ته دې ونيسه د پيريتوب زور راوښيه.

عثيم وويل: نه بابا ځان خو مه ندی د غاړي چي زور در سره کوم ناحقه به دې وژلی يم.

هيلۍ وويل: توبه مړ دي سي ستا دوښمن بيا داسي خبره ونکړې.

عثيم وويل: سمده نه يي کوم اُوه ما تاته يو شی در کوی.

عثيم د جيب څخه يو کاغذ راويستی بيا يي وويل: واخله.

هيلۍ وويل: دا د څه شي ورقه ده؟

عثيم وويل: دا ستا د آزادی ورقه ده چي دا در سره وي ته هر کله بيا راتلای او تلای سې آزاده ګرځيدلای سې.

هيلۍ وويل: خو دا ستا سره څنګه؟

عثيم وويل: د قاضي صاحب څخه مي واخيستل.

هيلۍ وويل: په زور که په رضا او تا د هغه سره وليدل څنګه؟

عثيم موسکی سو بيا يي وويل: په رضا يي راکړه او مجبور وم بايد ور سره ليدلي مي وای.

هيلۍ د عثيم لاس پر خپل سر کښيښوی بيا يي وويل: ته زما په سر قسم وکړه چي په رضا يي دا ورقه درکړل.

عثيم د هغي د سر څخه لاس ليري کړ بيا يي وويل: ليونۍ قسم يوازي د الله جل جلاله په ذات کيږي د انسانانو په سر او نورو شيان قسم کول ګناه ده او زه په الله قسم کوم چي په رضا مي ځني واخيستل تر څو ته بيله کومي بيرې ولاړه سې او بيله فکره ژوند وکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیلۍ یو څو شـــېبې عثیم ته کتل بیا یې خپل ســـر د هغه پر ځېګر کښېښوی بیا یې وویل: ته زما سره دومره مینه کوې چې د راتلونکې فکر مې لا هم در سره دی؟

عثیم وویل:

خلک وایي اول ځان پسې جهان دی

رحمان وایي یار تر ځان راباندې ګران دی

هیلۍ وویل: واه بیشکه.

هیلۍ چې لا هم د عثیم پر ځېګر سر ایښی وو وویل: عثیمه راسره ولاړ سه نو هیله کوم.

عثیم وویل: که مې کولای سوای حتماً در سره تلم خو زه مجبوره یم نسم کولای.

هیلۍ وویل: بس سمده ولې داسې نه وایې چې نه یم درته ګرانه زما پروا نلرې که دې درلودای راسره تللی به وای.

عثیم موسکی سو بیا یې وویل: لیونۍ زما په ګرانښت به بیا وروسته پوه ســـې چې څومره راتـه ګرانـه یې زما اولـه او اخیره مینه یې او اوله مینه هیڅکله نه هیریږي زه به په هغه دنیا کې یوازې او یوازې تا غواړم.

هیلۍ د عثیم د اوږې ســر پورته کړ خفه غوندې کښــېنســته د عثیم څخه یې مخ واړوی عثیم حیران سو بیا یې وویل: څه وسوه؟

هیلۍ وویل: یوازې مې په هغه دنیا کې غواړې پر دې دنیا نه ســره یو ځای کیږو؟

عثیم د خپګان ساه واخیستل بیا موسکی سو وېویل: ښـه ته پر دې خبره خفه سوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیلې څه نه وویل عثیم یې پر مخ را ایله وربښــــتیان پورته کړل بیا یې وویل: پوهیږې لیونۍ یوه ثانیه ډیر کم ژوند دی خو په الله قســـم چې بیلـه تا یې نســــم تیرولای ته چې به ددې ځایه ولاړې زه به تر هغه سـاعته ستا د اطاق پر شـاوخوا ګرځیدم چې کله به ستا د راتلو وخت سـو او چې تاته به نږدې سـوم نو زړه به مې په سـکون سـو ځان به مې د نړۍ تر ټول بختور کس بلۍ کله چې ســتا ســترګو ته ګورم د ځان سره وایم چې دومره ښایسته سترګې به په نړۍ کې بل د هیچا نه وي لکه زما د هیلې.

هیلې وویل: بس ســمده ســـمده اوس غوږه مالي مکوه زه نه پخلاء کیږم.

عثیم موسکی سو بیا یې وویل: اسمده نو زه څه وکړم چې ته راسره پخلاء سې؟

هیلې وویل: چې هر څه ووایم کوې یې؟

عثیم وویل: سر مې وغواړه ستا په پښو کې به یې کښیږدم.

هیلې وویل: چپ که لیونیه داسي خبرې مکوه زه بل څه غواړم.

عثیم وویل: هر څه چې وغواړې در تا به یې قربان کړم.

ســـبا ته تر تیاریو او د قلندر خان او کورنۍ ســـره یې تر خدای په امانۍ وروســـته هیله پلار یې او اجمل د هوایي میدان پر خوا روان سـول کله چې طیارې ته نږدې سـول نو هیلې عثیم ته وویل: عثیمه ځمه!

عثیم پر تندې ښګل کړه بیا یې ورته وویل: پر ځان پام کوه.

هیلې وویل: نه یې کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عثیم موسـکی سـو بیا یي وویل: لیونۍ په اخیره کي خو یو څه مینه راکړه خو چي وینم دي راباندي غوسه کوې.

هیلې وویل: د غوسـې وړ یي ځکه چي ته زما غوښـتنه نه منې چي وایم ولاړ سه راسره نه ځې.

عثیم وویل: زه به سـتا بیا راتلو ته تیاری ونیسـم چي راغلې بیا به د تل لپاره سره یو ځای سو.

طیارې ته ټول مسافر وختل خدمتګار هیلې ته په انتظار وو بیا عثیم وویل: هیلې ولاړه سه ټول تاته انتظار دي.

هیلې وویل: صحي دی ځم د خدای په امان.

عثیم وویل: ودریږه!

کله چي هیله ودریدل نو عثیم بیا پر تندې ښـــکُل کړه بیا یي د هغې لاس پخپل لاس کي ونیوی ښـــکُل یي کړ کله چي هیله روانیدل نو عثیم ورته وویل: هیلې دا کاغذ کي ما تاته یو څه لیکلې دي خو قسم درکوم چي کله طیاره په هوا سول بیابه یي ګورې.

هیلې وویل: څه دي لیکلي دي او ولي یي باید په هوا کي وګورم.

عثیم وویل: خاص څه نه دي خو بس دا زما غوښـتنه ده چي په هوا کي به یي ګورې.

هیلي خط ځني واخیسـتی وروسـته طیارې ته پورته سـول کله چي د طیارې د کلکین خواته راغله نو یي عثیم ته کتل او د خدای په امانۍ لاس یي ورته ښـوروی پلار یي هیلې ته متوجې سـو بیا یي تر څو شیبو وروسته وویل: هغه راغلی دی میدان ته؟

هیلې وویل: هو بابا هغه دی ولاړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هیلۍ پلار هم عثیم ته د خدای په امانۍ او مننې لاس وښوروی که څه هم لیدی یې نه خو د هیلۍ پر اشاره یې لاس وښوروی.

د هیلۍ پلار تر لاس ښـورولو وروسـته یو دم مخ واړوی او په ژړا سـو هیلۍ چې د خپل پلار ژړا ته فکر سـو نو حیرانه سـول په حیرانتیا یې وویل: څه وسوه بابا.

پلار یې څه ونه ویل خو هیله نوره هم حیرانه سول د عثیم خواته یې وکتل د هغه تر سـترګو هم اوښـکې رواني وې او په مایوسـۍ یې د هیلۍ خواته کتل په دې سره هیله پوه سول چې یو خبره حتماً سته نو یې پلار ته وویل: بابا راته ووایه چې څه خبره ده؟

د پلار تر سـترګو یې اوښـکې بهیدلې خو څه یې نه ویل هیله د خپله ځایه ولاړه سوه غوښتل یې د دروازې خواته ولاړه سې خو پلار او خدمتګارانو ونیول هیلۍ پـه ژړا او حملو وهلو وویـل: پرېږدی مـا پرېږدی ما.

خو کله چې د کښته کیدو څخه نا امیده سول نو پر ځای کښینستل د عثیم خط یې خلاص کړ د خط پر یو جمله یې سـترګې ولګیدې چې عثیم لیکلې وه: سـتا د ژغورلو لپاره زما سـره داغه یوه لار وه چې باید ځان مې قصاص ته حواله کړی وای.

هیلۍ خط بند کړ بیا یې په کلکین کې په ژړا او په اشـــاره عثیم ته وویل: داسې مکوه عثیمه هیله کوم.

عثیم پوه سو چې هیله د حقیقته خبره سول نو په اوښکو ډکو سترګو یې هیلۍ ته په اشاره وویل: چې په هغه دنیا کې ستا انتظار کوم.

هیلۍ تر طیارې پورتـه کیدو پورې سـر ښـوروی چې داســې مکوه......

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا هیلې ګډونوالو ته وویل: کله چي طیاره هوا ته پورته سول نو ما د عثیم خط خلاص کړ هغه لیکلي وه: زما ګرانې خوږې ناوکۍ لومړی خو درته سلام وایم او شاید کله چي ته دا خط وایي نو سخته به ماته په غوسه یي خو ستا د ژغورلو لپاره زما سره داغه یوه لار وه چي باید ځان مي قصاص ته حواله کړی وای او ته مي ژغورلې وای لیونۍ تا ماته ویلي وه چي کندهاریان هر غم او ستونزې پر ښځو اچوي خو ته نه پوهیږې چي موږ افغانان او پښتانه په الله قسم که د ښځو پر بدن کوچنی زخم لا لیدلای سو چي خپل سر مو پرېکیږي هم. هیلې په دې دنیا کي شاید ته د بل چا سې زما خو په نصیب نسوې په هغه دنیا کي به یوازي او یوازي زما یي مینه در سره لرم زما ناوکۍ ستا عثیم.

هیلې چي خط ووایه بیا یي هغه په زړه پوري ونیوی تر سترګو یي اوښکې وبهیدلې.

پلار یي وویل: هغه لیونی خو ما لیدلی نه وو خو د کړنو یي پوه سوم چي ښه هلک وو او ستا سره یي د زړه مینه کول هغه د قاضي کور ته ورغلی وو په ژړا یي ورته ویلي وه چي قاتل زه یم تاسو یوې بې ګناه انجلۍ ته سزا ورکوی قاضي ورته ویلي وه چي ته هم مسلمان یي زه هم او د قتل کړل سوي کورنۍ هم او په اسلام کي د قتل سزا قصاص دی تا ته خو موږ سزا نسو درکولای خو کچیري ته خپله ګناه ومنې نو هغه انجلۍ به آزاده کړو په تاسو کي باید یو سزا ووینې بیا هغه لیوني ورته ویلي وه چي زه مي ګناه منم او سزا ته یي هم حاضریږم خو تاسو به ماته د هغې د آزادۍ ضمانت راکوی بیا قاضي تر قسم ورکولو چي دی به سزا ته حاضریږي وروسته د هغه سره منلې وه بیا یي ستا ضمانت خط ورکړی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي د هيلې طياره کربښــې ته پورته ســول نو عثيم طيارې ته په کتو وويل:

دا وختونه به تيريږي او که نــــــــــه

د يار غم له چا هيريږي او که نـــــــه

دا وجود مي راته وګوره طبيبـــــــــــه

دا زخمونه مي رغيږي او که نـــــــــه

بيا هيلې ګډونوالو ته وويل: کله چي موږ تر څو ساعتو سفر وروسته راورسيدو نو فوراً مي عايشې ته زنګ ور ووهلی هغي په ژړا راته وويل چي عثيم پـه يو شـــکل راغلی او د قرآن مطـابق د څو خلکو مختـه قصـاص سـو پـه دې سـره زمـا د لاسـه تليفون ولويدئ او د عثيم سره د ژوند جوړولو ټول ارمانونه او خوبونه مي لمنځه ولاړل د چا زړه پسـی وران يي خو زه په عثيم پسي ټوله ورانه سوم ځني زموږ پـه ژوند کي د تنفس پڅير ارزښـــت لري نو ځکه کله چي هغوی د لاسه ورکړو نو ژوند مو سخت سي.......

کله چي د هيلې کيســـه پای ته ورســـيدل نو بيا يي کتاب بند کړ ټول ګډونوال چي تر ســـترګو يي اوښـــکې بهېدلې په چکچکو کولو ولاړ سول او هيله يي تشويق کړل. هيلې د هغو څخه مننه وکړه بيا يي پر مخ بهېدونکې اوښـــکې په لاس وچې کړې بيا د تالار څخه ووتل پر لارې په موټر کي يي د پلار پر اوږه سر ايښـی وو او په فکرو کي ډوبه وه کله چي کور ته ورســـېدل نو د خپل اطاق پر طرف ولاړه کله چي اطاق ته ورسېدل نو حمام ته ننوتل هلته يي هندارې ته وکتل بيا يي سر لاندې وځړوی ډير يي وژړل تر ډيري ژړا وروسته چي کله د حمامه راووتل نو په حيرانتيا يي وکتل بيا يي وويل: ته؟

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ليکوال نور کتابونه

- حيثيت ناول
- عاشقي ناول
- نارنج کلاء ناول
- کندهار اتل ناول
- زموږ نيمکړې مينه ناول
- تير يادونه ناول
- ناهيلې ناول
- کوډې په اسلام کي
- ښځه په اسلام او غرب کي
- نفلي لمونځونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د لیکوال پېژندنه


حاجي نیک محمد بارک چي د مرحوم محمد عیسی زوی د موسی جان لمسی او د غلام حیدر خان کړوسی دی ۲۳ کاله وړاندي د کندهار ولایت په نهمه ناحیه کي زیږیدلی دی. لومړنۍ دیني زده کړې یي د کلي په یو دیني مدرسه کي د قاریتوب تر درجې رسولي دي او لومړنۍ عصري زده کړې یي د ملالۍ لیسې شروع او په میرویس خان نیکه عالي لیسه کي پای ته رسولي دي. لوړي زده کړي یي په طب او اقتصاد کي کړیدي د نوموړي د خوښې خواړه وریجي د خوښې میوه کیله او اناناس د خوښې لوبه یي د موټرانو مسابقه د خوښې ځای یي د خپل هیواد شنې او زرغونې سیمې د خوښې کاروبار یي تجارت او د خلکو خدمت کول دي او د خوښې وړ انسان یي خپل مسولیت منونکی شخص دی مینه یي د خپل مور، ورونو، خویندو او راتلونکي میرمني سره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شمشیر غره په اړه

شمشیر غار چي د کندهار ولایت په پنجوایي ولسوالۍ کي په یو غره کي موقعیت لري د افغانستان یو د هغو عجایب تاریخي ځایونو څخه دی چي د ډیرو خلکو پام یې ځانته اړولی دی. په ناول کي ذکر سوي معلومات یې ټول صحي دي غوښتل مو چي دا ځای د ناول په ژبه تاسو ته در معرفي کم.

لاندي عکس یې د لیري ساحي څخه اخیستل سویدی د دننه عکسونه یې د موبایل د حافظې د خرابیدو له امله ورک سویدي.



Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library